# دعوت

**ملي، خپلواکه خپرونه**

www.dawatmedia24.com

ISBN: 978-82-691395-2-5

April- June 2023 Vol. 248 پرله پسې ګڼه ۲۴۸


د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي. ( سوره النحل ، 125 ایت )


موسس او مسئول چلوونکی:

**محمد طارق بزګر**



د تأسیس نیټه: 1367ل،(۱۹۸۸م)



Dawat Media,
V/M. Tariq Bazger
Vold gt. 37A, 2000
Lillestrom, Norway
Tel. +47- 63844384 Mobile. +47-90856195
dawatmedia@gmail.com
www.dawatmedia24.com


## ملي سندره

ځو چې دا مځکه آسمان وي
ځو چې دا جهان ودان وي
ځو چې ژوند په دې جهان وي
ځو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت

## د افغانستان ناڅرګنده او پیچلې راتلونکې

د افغانستان ناڅرګنده او پیچلې راتلونکې زموږ هېواد له لسیزو جګړو سره مخ دی، د طالبانو د واکمنۍ وروستۍ دوره چې د ۲۰۲۱ کال په اګست کې د طالبانو له خوا د پلازمینې کابل په نیولو سره پیل شو . واک ته د طالبانو راتګ په افغانستان کې د ډیموکراسۍ، بشري حقونو او ثبات د راتلونکي په اړه اندېښنې پیدا شوې. یو شمېر ننګونې شته، چې افغانستان به د یو باثباته او سوکاله راتلونکي د تضمین لپاره بریالی شي او که نه؟ امنیت: افغانستان له څو لسیزو راهیسې له جګړو او ناامنیو سره لاس او ګرېوان دی او واک ته د طالبانو راتګ د هېواد د امنیت په اړه اندېښنې راپورته کړې دي. طالبانو د امنیت او ثبات د ټینګښت ژمنه کړې؛ خو دا به معلومه شي چې ایا دوی به دا کار وکړی شي او که نه؟ حکومتداري: افغانستان باید یو باثباته او ټول شموله حکومت رامنځته کړي، چې د ټولو افغانانو د ګټو استازیتوب وکړي. چې دا به په هیواد کې د ټولو سیاسي او توکمیزو ډلو ګډون ته اړتیا ولري. د ټولګډونه حکومت څخه مراد پخوانی رسوا ټوپکمار او جنګسالاران نه دي .اقتصادي پرمختګ: افغانستان د نړۍ یو له بې وزلو هیوادونو څخه دی او اقتصاد یې د کلونو جګړو له امله ویجاړ شوی دی ایا نوی واکمن به وکولی شی چې د هیواد اقتصادي برخې کې پراختیا راولي او خلکو ته کار پیدا کړي؛ څو خپل خلک له فقر څخه راوباسي بشري حقونه: افغانستان په وروستیو کلونو کې د بشري حقونو په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو د حقونو د خوندیتوب په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی وو .واک ته د طالبانو راتګ په هېواد کې د بشري حقونو د راتلونکي په اړه اندېښنې راپورته کړې دي .افغانان او نړیواله ټولنه یو باثباته او سوکاله راتلونکي ته د افغانستان د لېږد په برخه کې مهم رول لوبوي. دا مهمه ده چې نړیواله ټولنه بشري مرستې چمتو کړي، اقتصادي پراختیا ته وده ورکړي، په افغانستان کې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو ملاتړ د نجونو پر مخ د ښوونځیو دروازې خلاصې، افغان نر او ښځې ته د کار برابرولو او حق ورکولو لپاره کار وکړي.

## ډاکټر محمد ابراهیم شینواری په مرکه کې:



**پخوانی نظام په دننه کې یو لاس او یوه خوله نه وو**

## آغلې شریفه شریف د دعوت سره په مرکه کې:



**زما په ذهن کې د طبیعت انځور هماغه د ارزګان غرونه او د کونړ سیند دی.**

**مخ پر وړاندې د خپلواک،سرلوړي، غښتلي، آباد او یو موټي افغانستان په لور**

## دعوت مېډیا ستاسې او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هیواد نه خپرېږي. د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي او غیر سیاسي ډلې استازیتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپرېږي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسؤلیت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو لیکنو مسؤلیت د درنو لیکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره لیکنه دې د دعوت د نشراتي پالیسۍ سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER,**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384
Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5
Orgnr (Reg#): 985160058

د انټرنټ په نړیواله شبکه‌زموږ ویبپاڼه
www.dawatmedia24.com

زموږ د برېښنا لیک پته:
dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:
DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب
Account for international payments:
NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره: Vipps: #557320

**خڼګه کولی شئ د دعوت مېډیا مالي مرسته وکړی:**

خپلې مرستې (پیسې) د بانک په پته راولیږئ. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د بریالیتوب او لاښه پرمختګ زیری دی. هر افغان باید تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسؤلیت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

## دعوت مېډیا د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت رسنیز مرکز وياړي چې د خپلو بېلابېلو رسنیزو فعالیتونو د لیارې د هیواد په دې ټاکونکو او حساسو شیبو کې په ملي افغاني روحیه تر خپله وسه هڅه کوي چې خپلو خلکو ته د خدمت مصدر وګرځي.

د دعوت ملي خپرونه د خاوري تمامیت، ملي ګټو او د ملي یووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، لیکوالانو، او روڼفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانیستلی سنګر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هیواد او ولس کورني او بهرني دښمنان وروپیژني او تر ممکن حده د دوی خاینانه دسیسې او توطیې شنډې او خنثی کړي.

په هیواد کې د سولې، ولسواکۍ، ټولنیز عدالت، وګړیزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بیان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنیو بنسټیزو اسانتیاو د برابرولو، او په لنډه که وواېو د دموکراتیکو لارو، نه د "زور، زر، او تزویر" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثریت په خوښه د یو غښتلی او منلي مرکزی ملي حکومت د جوړیدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بیائي.

خو!

د دې څراغ د روښانه ساتلو د پاره د ګرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاریو ته د هر وخت نه خورا زیات ضرورت دئ، که زموږ د پالیسۍ او د دعوت د ملي خپرونې د محتوا سره موافق یاست نو موږ د دې جوګه کړی چې د دعوت میډیا خپرونې او دعوت خپرونه د نړۍ او ګران افغانستان ګوټ ګوټ ته ورسوو، او د هغه ناامیده هیوادوالو له پاره د امید ډیوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله یې خپل امید د لاسه ورکړی دی، او داسې چیرته چې افغان وي هلته دعوت وي یاني دا چې ډیرو هیوادوالو ته دعوت ورسیږي او زموږ هڅې به هله بیځایه نه وي چې یو زیات شمیر هیودوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسیدل ستاسو درنو هیوادوالو او د دعوت مینه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هیله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په لیکل شوې پته راواستوئ: د بانک او یا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.

یو ځل بیا وایو :

((دعوت میډیا د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي ډلې نمایندګي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پورې تړلې ده. دعوت میډیا د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپرونې کوي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسؤلیت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د پخوا نه زیات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتیا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه
د دعوت اداره

# ډاکټر محمد ابراهيم شينواری د دعوت‌سره په مرکه کې:

## د هېواد په دننه کې ځوانانو ته مې وړانديز دی چې په عزم، نرمۍ او سوله ايز ډول له چارواکو لومړی د امنيت او تعليم حقوق وغواړي

## فکر نه کوم که ژر دې کوم لوی افغانستان شموله نوی حرکت رامنځ ته شي

## پخوانی نظام په دننه کې يو لاس او يوه خوله نه وو

## د دعوت رسنيز مرکز خدمتونه د ډېرې ستاينې وړ دي



**پوښتنه: د افغانستان روان وضعيت ستاسو له نظره څنګه دی؟**

ډاکټر محمد ابراهيم شينواری: تر مننې وروسته،

مثبت اړخ دا دی چې هره ورځ اوس په سلګونو ځوانان نه مري، ملوک الطوايفي نشته او د فساد کچه او پراختيا کمه شوې ده. منفي اړخونه دا دي چې، ولس ته له نسبي فزيکي امنيت پرته رواني او ټولنيز امنيت نه دی برابر شوی، اساسي خدمات ورته نه عرضه کيږي، د ښځو د تعليم او کار په وړاندې په ځانګړې ډول بنديزونه لګول شوي دي، د قانون حاکميت نشته، لا تر اوسه هم د اشخاصو له خوا خلک بې عزته کېدای شي او حتی وژل کېدای شي. روزل شوي کادرونه له هېواده ووتل، کار اهل ته نه ورکول کيږي، حاکمه ډله پر ملت تکبر کوي، ځان لومړی درجه هيوادوال ګڼي او نور دويمه درجه.

**پوښتنه: روان وضعيت به تر کومه دوام وکړي په داسې حال کې چې نوی واکمن نه د ولس او نه هم د نړۍ سره يوه ژبه پيدا کولی شي. اوږد مهاله تاثير به يې څه وي؟**

ډاکټر محمد ابراهيم شينواری: دا تر ډېره په نوو واکمنو پورې اړه لري چې څنګه خپل ملي مکلفيتونه او نړيوال تعهدونه عملي کوي.

**پوښتنه: څه باعث شول چې شل کلن جمهوريت دوه کاله وړاندې په څو ورځو کې له منځه لاړ؟**

ډاکټر محمد ابراهيم شينواری: هغه نظام له يوې خوا په دننه کې يو لاس او يوه خوله نه وو، دويم يې تکيه د بهرنيو متحدينو په مالي، نظامي او لوژستيکي مرستو وه. کله چې نړيوالو حاميانو يې له ملاتړه لاس واخيست، ژر سقوط شو.

**پوښتنه: د افغانستان راتلونکې ته څنګه ګورئ؟**

ډاکټر محمد ابراهیم شینواری: نهیلي ښه نه ده. که غر لوړ دی، په سر یې لار شته. که مسؤولین خپل مسؤولیت ته متوجه شي، نړۍ هم د بشري خواخوږۍ او انساني ورورولۍ پر بنسټ له افغانانو سره تعامل وکړي، کېدای شي د بین الافغاني خبرو له لارې یو ټول شموله نظام ته لار اواره شي، چې په بهر کې به هم د هیواد انځور ورسره ښه شي. خو ظاهراً داسې نه ښکاري چې نوي واکمن دې څوک له ځان سره شریک کړي، دوی بیعت او مطلق اطاعت غواړي، چې مخالفې ډلې یې ورته نه حاضرېږي.

**پوښتنه: په افغانستان کې روغتیایي سیستم چې له پخوا هم ښه نه وو، اوس ستاسو له نظره (روغتیایي سیستم) څنګه، له کومو ننګونو سره مخ دي او په اوږد مهال کې تاسې روغتیایي سیستم ته څنګه ګورئ ؟**

ډاکټر محمد ابراهیم شینواری: روغتیا او پوهنه دوه سکټورونه وو چې له ستونزو سره سره یې لوی پرمختګونه کړي وو. د میندو، ماشومانو او نویو زېږېدلیو مړینه تر پخوا ډېره راکمه شوې، د ژوند د اوږدوالي توقع لوړه شوې او د روغتیایي خدمتونو د پوښښ سطحه خصوصاً په کلیوالو سیمو کې ډېره لوړه شوې وه. اوس سیستم او رهبري هم کمزورې ده او نړیوال ملاتړ هم کم شوی دی. که خیرخواهانه هڅې ونه شي او نړیوال ارګانونه مرستې ونه کړي، د دې سیستم د سقوط امکان شته.



**پوښتنه: دوه کاله کیږي چې د نجونو پرمخ د ښوونځیو او لوړو زده کړو دروازې بندې دي ستاسو په نظر د دې په لنډ او اوږد مهال تاثیر به په افغانستان او د وطن په ښځینه قشر څه وي؟**

ډاکټر محمد ابراهیم شینواری: دا د ملت د تشویش او نارضایتۍ تر ټولو لویه بېلګه ده. د نجونو او ښځو په محرومولو د ټولنې نیمه تنه فلجیږي. د نجونو د پوهنې او لوړو زده کړو په برخو کې هم د جمهوریت په شلو کلونو کې کافي پرمختګ شوی وو، مثلاً:

تر څلور میلیونه نجونې زده کوونکې، تر ۹۰ زره معلمانې او اتلس زره ښوونځي چې نیمایي یې د نجونو ښوونځي وو.

په لکونو محصلانې او ۲۶۰۰ استادانې (۱۳۳۶ لسانس، ۱۱۷۵ ماستر او ۸۵ ډکتورا لرونکې) موجودې وې. د هیواد په هر ولایت کې لږ تر لږه د لوړو زده کړو یو دولتي پوهنتون یا موسسه وه او په دغو شلو کلونو کې له ٦ څخه ۳٦ ته ورسېدل. خصوصي پوهنتونونه تر دې څو چنده زیات وو.

اوس یې د نجونو پر مخ تقریباً ټولې تعلیمي او تحصیلي لارې تړلې او واضح خبره هم پکې نه کوي.

**پوښتنه: د ښځیو، لوړو زده کړو او کار بندیز تاثیربه په رواني لحاظ په ښځینه قشر څنګه وي؟**

ډاکټر محمد ابراهیم شینواری: مایوسي، رواني فشار، زور خفګان او پر ځان بې باوري. دا رواني نورو ناروغیو او ټولنیزو ستونزو ته لار اواروي.

**پوښتنه: ستاسو په نظر څه د دې سبب شوي چې طالبان د انجونو د تعلیم او کار مخالفت کوی، ایا دا د دوئ خپل نظر دی که له بهر یې د ملاتړو غوښتنه ده؟ ځکه د نړۍ په هیڅ اسلامي او غیر اسلامي هېواد کې د نجونو د تعلیم او کار مخه نه ده نیول شوې.**

ډاکټر محمد ابراهیم شینواری: ما په یوه لیکنه کې د دې پریکړې احتمالي سببونه لیکلي وو چې دلته یې ستاسو سره په عین ډول شریکوم:

آیا د حاکمې ډلې د ټولو ملایانو دیني تعبیر د ستري محکمې د اوسني رییس د تعبیر په شان دی چې د نجونو زده کړه سمه نه بولي؟

که داسې و انګیرل شي چې د ځینو یا ټولو مشرانو نظر همداسې وي، نو په دې صورت کې ورسره مقابله مشکله ده. ځکه دا یوه فکري، سلوکي او د پالیسۍ مسئله ده او سلوک، فکر او پالیسي بدلول ډېر ستونزمن کار دی؛ زیات وخت، ډېرو هڅو او پراخې حوصلې ته اړتیا لري.

آیا حاکمه ډله په دې ډول له نړۍ څخه سیاسي امتیاز غواړي او یا د نړۍ له خوا پر دوی لګول شوو بندیزونو ته غبرګون ښايي؟

د نجونو د زده کړو، تحصیل او د ښځو د کار د بندولو سبب همدا وي، نو د دې بنسټیزې ستونزې حل کول هم عام ولس ته ګران کار دی. له بلې خوا باید واکداران د خپلو خلکو د اساسي حقوقو پر سر له بل چا امتیار ونه غواړي. خو که دا دلیل رښتینی وي، سیاسیون، او نړیوال تعلیمي، مدني او د بشر د حقوقو بنسټونه او هیوادونه په دې باب مرسته کولای شي او داسې حل ته رسیدلای شي چې د مشروطو دوه اړخیزو امتیازونو په بدل کې سیاسي جوړ جاړی وشي. مدني بنسټونه او اشخاص د دې لپاره استازیتوب، دفاع، ملاتړ جلبول، خبرتیاوې خپرول، سازماندهي او پیغامونه شریکولای شي.

آیا د اقتصادي سرچینو او وسائلو د کمښت له امله د اوسنۍ اداري له نظره د نجونو زده کړه وروستی اولویت دی

که د نجونو د تعلیم د ځنډ سبب اقتصادي ستونزې وي، نو لومړی خو دې اوسنۍ اداره دا په ښکاره ووايي، دوهم دې له نړۍ مرسته وغواړي او په درېیم قدم کې دې له ملت څخه د صبر او حوصلې غوښتنه وکړي. البته که منابع محدودې وي، بیا دې هم د هلکانو او نجونو ترمنځ مساوي وویشل شي.



آیا په رښتیا کلتوري ستونزې د نجونو د زده کړو مخه نیسي؟ او آیا دا د کلیوالو او ښاریانو ترمنځ فکري جګړه ده؟

کلتور کوم ثابت عنصر نه دی؛ او د نورو ټولنیزو پدیدو په څیر تل د وخت او زماني سره بدلون کوي. له بلې خوا د اسلام یوه ځانګړتیا دا هم ده چې ناوړه رواجونه اصلاح کوي. کله چې د یو انسان حق تلف کیږي، دا خو بیا لوی ثواب دی چې خنډ یې له مخې لیرې او ناوړه رواج اصلاح شي. په تېرو شلو کلونو کې د کونړ، پکتیکا او حتی د اوسنیو جنګیالیو تر کنټرول لاندې د هلمند نادعلي ولسوالۍ کې د نجونو ښوونځي فعال وو او هیچا دا کار د کلتور او فرهنګ خلاف نه ګاڼه.

آیا د بلې حریفې ډلې (د ا ع ش) سره فکري او عملي مقابلې ته د ځان تیار ساتلو یو تکتیک دی؟

داسې ویل کیږي چې د اوسنۍ اداري ځینې جنګیالي د تمدن او ښاري توب نښې د غیر اسلامي ښکارندو په توګه ګڼي او که اداره د نجونو ښوونځیو ته (چې شرعي مشکل نه لري) اجازه ورکړي، دغه ناخبره ځوان جنګیالي به هغې بلې ډلې ته ورشي. د دې دلیل احتمال زیات نه دی، خو باید وڅېړل شي.

آیا د کوم بهرني فشار یا پټ تفاهم له امله د نجونو تعلیم بند شوی دی؟

دا هم یوه پوښتنه ده، خو د دې تر شا به منطق څه وي؟ ممکن ځينې هيوادونه نه غواړي چې د اوسنۍ اداري يو متمدن تصوير نړۍ ته وړاندې شي او يا هم ځينې غرضي کړۍ د دوست په جامه کې غواړي په دغه ډول کړنو د اسلام مبارک دين د ترقۍ او تمدن پر خلاف معرفي شي.

که دا یوه پټه ژمنه او د دوستۍ په جامه کې د غرضي کړيو دسيسه وي، نو حل کول به يې ډېر سخت وي. ځکه لومړۍ خو د دغه دليل ثابتول ستونزمن حتی ناممکن دي او دوهم سياسي ډلې د پټو وعدو په باب هيڅ اسناد نه شريکوي؛ نو د عامو خلکو له خوا مقابله به ورسره چندان آسانه نه وي.

**پوښتنه: اوسني تعليمی نصاب چې طالبان يې پلي کوی همغه پخوانی د جمهوريت د مهال نصاب دی او که بدلون پکې راغلی؟ ستاسې معلومات په دې اړه څه دی؟**

ډاکټر محمد ابراهيم شينواری: دقيق معلومات نه لرم، خو فکر کوم ځينې جزيي بدلونونه يې پکې راوستلي دي.

**پوښتنه: د جمهوريت له سقوط وروسته په لکونو تعليم يافته افغانان له هېواده ووتل د دې تعليم کړو د وتلو علت او تاثير به د افغانستان په نن او راتلونکي څه وي؟**

ډاکټر محمد ابراهيم شينواری: د يو هېواد تر ټولو ستره پانګه بشري پانګه ده. د جمهوريت په شلو کلونو کې يو ځلانده پرمختګ د ښو کادرونو روزل وو. متاسفانه زياتره يې له هېواده ووتل او نور هم تللو ته منتظر دي. د دې جبران په لسيزو کې هم نه کېږي.

**پوښتنه: که وکتل شي په افغانستان کې هيڅ يو لوی ملي، سياسي او افغانستان شموله حرکت نشته څه بايد وشي تر څو ډېر افغانان په يوه حرکت يا يوه ټغر راغونډ شي؟ او که راغونډ نه شي څه به وشي؟**

ډاکټر محمد ابراهيم شينواری: افغانستان شموله حرکت بايد په داخل کې رامنځ ته شي. د جمهوريت په کلونو کې تمرکز پر دې وو چې پخوانۍ لويې ډلې ورو ورو کمزورې شي، ځکه هغوی ملکي او نظامي دواړه تشکيلات درلودل او د نوو سوله ايزو تشکلاتو د جوړېدو لپاره هم کومه اراده نه وه موجوده. ملت هم د زبرځواکونو د جګړو او تر ې وروسته د کورنيو جنګو اوږده دوره ګاللې وه، چې قومي او سيمه ايز او فکري او نظرياتي بيلتون يې ژور کړی دی. نوی نسل هم ځپل شوی او مايوسه شوی دی. زه فکر نه کوم که ژر دې کوم لوی افغانستان شموله نوی حرکت رامنځ ته شي. باسوادو افغانانو ته زما وړانديز دا دی چې:

د فکر توليدونکي شي

د مثبتو فکرونو د روزونکيو په ډله کې هم شامل شي

ټول دې سياسي مشرۍ ته نه کانديدېږي. که دغه کار کوي نو بيا دې شپه و ورځ همدغه کار ته ورکړي

له تعصب او کرکې په ډکو هغو بحثونو کې دې نه شريکېږي، چې يوازې زهر شيندي، ټپونه په ناسور بدلوي او د نوښت او خير رسولو پروسې شنډوي.

که دوی دا پاس دوه کارونه وکړي او له وروستيو دوه و ډېره وکړي، په نتيجه کې به د نوو او مثبتو فکرونو او علمي موادو د خپرولو په شريف کار کې برخه واخلي چې په تدريج او اتومات ډول د پرمختګ، عدالت، انکشاف او انساني نيکمرغۍ لپاره لارې خلاصوي. د دې لپاره دې لوستي کادرونه په ځانګړي ډول پښتانه هغه څه وکړي چې کولای يې شي. ځکه کله چې غواړې د ټولنيزو، ساينسي، معلوماتي، ديني او ادبي موضوعاتو په باب يو څه پيدا کړې، په پښتو کې په ندرت پيدا کېږي، البته دري/ فارسي ته ايرانيانو کار کړی دی او زياتره ستونزې پکې حليږي، خو معلومات يې يو اړخيز دي. نو زموږ باسواده کادرونه د بېلګې په توګه دا لاندې کارونه کولی شي:

کتابونه او اثار ليکل

کتابونه او اثار ژباړل

موجود ټول پښتو اثار انلاين کول




موجودې پښتو ویب پاڼې حمایه کول

نوې ویب پاڼې جوړول

حضوري او انلاین زده کړې حمایه کول

د معلوماتو او پوهې شریکولو انلاین او حضوري فرصتونه ایجادول، فعال ساتل او تقویه کول

**پوښتنه: هغو پیغلو او ځوانانو او په ټوله کې افغانانو ته مو پیغام او مشوره څه ده هغوئ چې له هېواده بهر او په لویدیځو او نورو هېوادونو کې ځای په ځای شوي دی څه باید وکړی او خپل وخت په څه تیر کړي مقصد لومړیتوب یې باید څه وي؟**

ډاکتر محمد ابراهیم شینواری: بهرمیشتو ته مې دا پاس مشوره کافي ده، او د هېواد په دننه کې ځوانانو ته مې وړاندیز دی چې په عزم، نرمۍ او سوله ایز ډول له چارواکو لومړی د امنیت او تعلیم حقوق وغواړي، وروسته ترې د عدالت قیام او په پای کې په پریکړو کې د دوی د شریکولو غوښتنې وکړي. د انقلابي او ماجرایي لارې نه، بلکې د مدني، حوصله مندې او هوښیارې لارې دې د تفاهم او مشترکاتو د میندلو له لارې مبارزه او خدمت وکړي. جنگ، جگړې، فساد او شر ته دې نه ووایي.

**پوښتنه: د دعوت رسنیز مرکز د فعالیتونو په اړه مو نظر څه دی او څه باید وشي چې دا فعالیتونه لا ښه شي؟**

ډاکتر محمد ابراهیم شینواری: ستاسو خدمتونه د ډېرې ستاینې وړ دي. د دې په قدر هغه څوک پوهیږي چې د بهرنیو هیوادونو په مصروف چاپیریال کې اوسیږي او دغسې د خیر کار ته وخت ورکوي، یا زړه غواړي خو وخت نه شي ورکولی. تاسو چې څو لسیزې دوامدار او ثابت قدمه خدمت کوئ، د دې محاسبه یوازې الله تعالی کولی شي او هماغه لوی رحیم ذات به یې اجر درکړي.

مننه، ستاسو لا برى، خوښي او نیکمرغي غواړم.

# له افغانستانه د مغزونو او زړونو تیښته



پوهنمل دکتوراندوس رحمت څواکمن

مهاجرت یا کډوالي یوه روانه طبیعي لړۍ ده، چې له پیړیو راهیسې د هیوادونو دننه او د هیوادونو له پولو بهر نورو سیمو او هیوادونو ته دوام لري.

وګړي د ښه کار او ژوند په لټون له کلیو ښارونو ته کډه کیږي. همدارنګه اوس په پرمختللو صنعتي هېوادونو کې ځانونه د ښارونو له ګڼې ګوڼې د ښارونو ځنډو او شاو خوا ارامو سیمو ته رسوي او هلته استوګن کیږي. د نړۍ د ټولو هیوادونو ځنو وګړو، لږو او یا ډیرو خپل اصلي هیوادونه د بیلا بیلو دلایلو له امله پریښي او نورو هیوادونو ته مهاجر شوی دي.

نورو هیوادونو ته د کار او ژوند لپاره په لږ شمیر او خپله خوښه تګ دومره زیانونه نه لري او یو طبیعي حالت دی، خو د جګړو او نورو مجبوریتونو له امله له خپل هیواده د ګڼ شمیر وګړو کوچېدل د سختو او ناوړه پایلو لرونکې وي.

ځکه چې د مجبوریت له امله خپل اصلی ټاټوبی پریښودل هم پر کډوال وګړي او هم یې پر خپل اصلي وطن ناوړه اغیزې کوي.

فکر کوم په خپله خوښه او رضایت ډیر لږ خلک خپل وطن پریږدي، په دی هکله یوه خوږه لنډۍ هم شته چې وایې:

څوک په رضا له ملکه نه ځي

یا ډیر غریب شي یا د یار له غمه ځینه

همداسې له خپلو هیوادونو تللی ډیری وګړي په نورو هیوادونو کې هم د خپل اصلي ټاټوبي په ارمان وي او له وطنه لیری والی ورته یو دایمي درد وي.

په نورو هیوادونو کې که هر څومره سوکاله او ودان ژوند هم ولري خو بیا هم ورته خپل د خاپوړو ځای نه هیریدونکې وي.

امپراتور ستر احمدشاه بابا هم یو وخت د وطن ارمان کړی او ویلي یې دي:

د ډهلي تخت هیرومه چې را یاد کړم

زما د ښکلی پښتونخواه د غرو سرونه

وایې چې غازي شاه آمان الله خان هم د خپل وطن یو موټې خاوره له ځان سره ایټالیې ته وړی وه، او د هغې په رنګ او بوی به یې د وطن مینه ماتوله، هغه که په ژوند ونه توانید چې خپل مورني وطن ته وروګرځي نو د خپل جسد او آبدي خوب لپاره یې بیا هم خپله خاوره غوره کړه، لحد یې پر وطن شو او د مزار جنډې به یې تل د خپل هیواد پر باد رپیږي.

دی ورته زیاتی کیسې او افسانې له پردیسو، مهاجرو او مسافرو راپاته دي او دا لړۍ روانه ده.

خو زما له دی لیکنې موخه له ځلویښتو کلونو را دیخوا د افغان وګړو ډله ییزی او جبري کډوالی ته پام را اړول دي، چې په نړۍ کې بیساری ده او پایلې یې هم خپله کډوالو افغانانو او هم یې خپل اصلی وطن ته ډیرې ناوړه دي.

لکه چې دمخه مې وویل، د طبیعي پېښو، ناامنیو، سیاسي اختلاقونو، جګړو او اقتصادي لاملونو له مخې کډوالي او مهاجرت اوږد تاریخ لري.

که لږ شاته لاړ شو پخوانی او اوسنی تاریخي او جغرافیایې حالت لږ وګورو نو داسې ښکاري چې زوړ ښکیلاک په نویو بڼو او نویو لارو چارو مخ ته روان دی. له پیړیو راهیسې د

خپلو ګټو او بقا لپاره رنګونه او تکتیکونه بدلوي او نوی لارې چارې لټوي.

له پنځلسمې پیړۍ راوروسته هم مهاله د امریکا د لویې وچې له موندل کیدو او کشف کیدو سره، اروپایي پاڼوګانو د سوداګرو، طبیبانو، سیلانیانو او مذهبي تبلیغیانو په بڼو افریقا، اسیا او امریکا ته ځانونه ورسول.

د خپلو هېوادونو د راتلونکو استعماري تاړاکونو لپاره یې لارې پرانستې او د معلوماتو سرچینې یې ورته برابرې کړې. په افریقا او اسیا کې یې د بیوزلو هېوادونو د وګړو له کمزوریو، ناپوهیو او د نومړو هیوادونو له شتمنیو ځانونه خبر کړل.

د قومونو او قبیلو ترمنځ یې د ښمنۍ و پارولې، خپل منځي جګړې یې رامنځ ته کړې او د وسلو او مغرضانه مرستو رسول یې ورته پیل کړل.

هماغه مهال نیږدې ټوله افریقا او زیاتره اسیایي هیوداونه مستعمره شول او د ځنو اروپایي هیوادونو لکه انګلستان، فرانسې، اسپانیې، ایتالیې، پرتګال، هالنډ، بلجیم او نورو تر واک لاندې راغلل.

همداسې په شمالي امریکا کې زیاتره اروپایي انګلو ساکسون نژادي ( انګلیسان، فرانسویان هالنډیان او نور) او په جنوبي امریکا کې لاتیني ژبي( هسپانویان، پرتګالیان او نور) ځای پر ځای او واکمن شول. همدارنګه استرالیا، نیوزیلاند او د اوقیانوسیې ځنې نورو ټاپوکانو ته هم انګلیسی او هالنډي بیړۍ چلوونکو ځانونه ورسول او نوی سیمې یې و موندې.

هماغه مهال د سوداګرۍ یوه داسې نړیواله کړۍ یا دایره رامنځ شوه چې، افریقایي وګړي په بیړیو کې امریکې ته د کار لپاره وړل کیدل. هلته به ورځنې د ځنګلونو په وهلو ، د کرنیزو ځمکو په رامنځ ته کولو، درنو ساختماني کارونو او نورو بیلابیلو برخو کې د مریانو او وینځو په توګه کار اخیستل کیده.

له هماغه تازه موندل شوې یا کشف شوی امریکې او همدارنګه له اسیا او افریقا به یې خام توکې اروپایي فابریکو ته راوړل او بیایی به یې پاخه صنعتی شوي قیمتي توکې د اسیا او افریقا بازارونو ته رسول.

اوس هم ستر پر مختللی هیوادونه په پرمختیایي په ځانګړې توګه جګړه ځپلو هیوادونو کې همدا لوبه مخ ته بیایی.

اوس چې په یو شمیر لویدیځو هیوادونو کې د زاړه عمر لرونکې زیات شوي، ځکه وګړي یې اوږده عمرونه کوي او د کار ځوانه قوه په کې له کمښت سره مخ ده، نو په یېلا بیلو نومونو له بیوزلو هیوادونو ځوان استعدادونه خپلو هیوادونو ته رابولي.

افغانستان چې اوږدې جګړې ځپلی او د ګوتو په شمار وګړو ته یې د زده کړو زمینه برابره شوی نو لږ شمیر یې د خپلو غوره استعدادونو په برکت متخصص شوي او د کار کولو لازم مهارتونه یې ترلاسه کړی دي.

یو شمیر ځوانان په دې وروستیو دوو لسزیو کې نورو هیوادونو ته د زده کړو لپاره ولیږل شول، هلته یې زده کړې وکړې، ډیر یې بیرته له ګټورو مسلکي پوهو سره خپل هیواد ته راستانه شول. په پوهنتونونو، روغتونونو، ساختماني او ودانیزو برخو کې تازه په کارونو و ګمارل شول. خو متاسفانه له تیرو دوو کلونو رادیخوا په هیواد کې د سیاسي بدلون له امله، یو زیات شمیر هماغه په پرمختللو هیوادونو کې روزل شوی کادرونه له هیواده ووتل او لا نور هم له هېواده وتلو ته هڅول کیږي او له هیواده ویستل کیږي.

ګڼ شمیر روڼ اندي، پوهان، متخصصین، لوبغاړي، هنرمندان، خبریالان، مدني فعالین او نور ماهر وګړي له هیواده وتلي او دا لړۍ دوام لري. زیاتره یې د هماغو پر مختللو هیوادونو له خوا له خپلو کورنیو سره وروغوښتل شول، چرته یې چې زده کړې کړې وی، یا یې ورسره مسلکي، بشري، اقتصادي او یا سیاسي اړیکې لرلې.

د دا ډول مغزونو، د پوهې د څراغونو او له احساس او وطنپالنې ډکو زړونو تښتیدل او له هېواده وتل زموږ د بدمرغه هېواد پر ټپې سینه یو بل ستر ګوزار دی.

یو ځل د چپي واکمنۍ پرمهال، بیا د تنظیمي جګړو پر مهال او دادي اوس بیا د طالبانو د اوسنۍ واکمنۍ پر مهال د لوږو زده کړو لرونکي او روزل شوي افغانان له هیواده تښتي.
هیله ده هغه افغانان چې سرونه یې له خطر او ګواښ سره مخ نه دي، په هیواد کې پاته شي.
طالب چارواکې او نړیواله ټولنه باید په ګډه د ماهرو او روزل شویو افغانانو د کار او ژوند ډاډ او ضمانت ورکړي او د هیواد دننه ورته د ابرومند کار او ژوند رښتینې او عملي زمینه برابره کړي.
هیوادوال پوهیږي، چې افغانستان د خپل بیساري جغرافیایي موقعیت، طبیعي لاس نه خوړلو زیرمو، رناګارنګ غوره اوبو او هوا، په سلګونو غلو دانو او میوو، کرنې، مالدارۍ او نورو طبیعي اقتصادي ورتیاوو په لرلو سره د یوې بیسارې ښې راتلونکې لرونکې دی.
هیله ده سوله ټینګه شي، جګړه ورکه شي، باور لرم چې بهرنیان به افغانستان ته یو ځل بیا د سیلانیانو، سوداګرو او ګڼو نورو اقتصادي موخو لپاره ورګرځي او افغانستان به خپل تاریخي برم او ارزښت ترلاسه کوي.
د پوهو او مسلکي کسانو له هیواده وتل به په لنډ مهال کې د هغوی په ګټه وي خو په اوږده مهال کې هم هغوی او هم هیواد ته ډیر زیان لري.

پوهنمل دکتوراندوس رحمت ځواکمن
هالنډ/ ۲۰۲۳/۴/۳۰



# طالبانیزیم"، امارت «اسلامی» و انتخابات



میرعبدالواحد سادات

در دو روز اخیر انتخابات در رسانه‌ها به بحث روز مبدل گردیده است و هموطنان عزیز در داخل و خارج کشور به زوایای مختلف موضوع می‌پردازند. انگیزه این مباحثه اظهارات دو روز قبل معاون سیاسی مجلس‌الوزرای طالبان (آقای مولوی کبیر) می‌باشد.

از آنجایی که این بحث بحقوق اساسی شهروندان افغانستان و سرنوشت کشور ارتباط دارد، فارغ از حب و بغض، نظرات مسلکی و ارزش محور، بخاطر رفتن به مناظره ارزش محور و مبتنی بر مصالح علیای افغانستان مطرح می‌گردد تا در آتیه این بحث به محور اساسی گفتمان سراسری ملی مبدل گردد:

البته مطرح ساختن بحث انتخابات از طرف مقامات بلند پایه طالبان با هر انگیزۀ که باشد، در واقع اعتراف به یافتن کلید به «بحران بزرگ مشروعیت» در افغانستان می‌باشد. کسانی که با اصول فقه آشنا اند و با کتاب فقهی معروف (هدایه شریف بلدیت دارند، بدرستی می‌دانند که اصل فقهی (طلب‌الصلح عن‌المدعی، یکون اقراراً بذالک شی) بر این اعتراف مصداق دارد. اکنون که یک و یا تعدادی از رهبران طالبان به درک اصل و اساس بحرانات جاری کشور متوجه می‌شوند و بعد از گذشت حدود بیست ماه، لااقل بحق حاکمیت ملی که بطور انحصاری به مردم تعلق دارد و مطابق به تمام ارزش‌های قبول شده حقوق بین‌الملل مندرج در منشور سازمان ملل متحد، اعلامیه جهانی حقوق بشر و میثاق‌های جهانی ناشی که با دین و آیین افغانستان مباینت ندارد، ، اعتراف مینمایند، نمایانگر این حقیقت است که:

دیگر انکار از حق انحصاری مردم، تیشه بر ریشه خود زدن است که نتیجه آن تباهی وطن مشترک و تداوم تراژیدی خونبار افغانستان است.

مبرهن است که نظرات انفرادی رهبران طالبان که در گذشته نیز به ارتباط سلب حق تحصیل و کار دختران و زنان مطرح گردیده است، مبین پالیسی مسلط و اصول کاری «امارت اسلامی» شان نمی‌باشد.

مشکل اساسی در کجا است؟

آنچه بنام «امارت اسلامی» خوانده می‌شود، منبعث از فکر "طالبانیزیم" است که ریشه در دیوبند پاکستان و جناح تندرو مدرسه اکوره ختک حقانی (که بنیاد گذار آن مولانا عبدالحق، پدر مولانا سمیع الحق) دارد.

"طالبانیزیم" چیست ؟

"طالبانیزیم" ناقض حقوق و آزادی مردم، به شدت زن ستیز، منکر و مغایر منافع ملی و با تمام معیار های ملی و بین‌المللی حیات مدنی در جنگ است.

"طالبانیزیم" قبل از همه فکر طالبانی، ایدیولوژی، تیولوژی و قرائت بدوی رهبری طالبان از دین مقدس اسلام است که بشدت افراطی، متحجرانه، مطلق گرا و منبعث از مدارس دیوبندی طرازپ اکستانی است.

برخلاف تصور تعدادی از روشنفکران، "طالبانیزیم" فکر مدون و منسجم است که زعامت طالبان از آدرس امیرالمومنین و امارت اسلامی و بخاطر تحقق آن تلاش می‌نمایند. مانیفست طالبان در

کتاب «امارت اسلامی» تالیف اندیشه پرداز اساسی شان شیخ عبدالحکیم «قاضی القضات» بیان گردیده است. کارشناسان ملی و بین‌المللی بشمول سازمان ملل متحد، پنج تا هفت تن را سکاندار اساسی زعامت "طالبانیزیم" وانمود می‌نمایند. این اختاپوت و اژدهای هفت سر، در یکی از مهمترین کانون های جیوپولوتیک جهان و در پیچیده ترین بازی‌های استخباراتی بین‌المللی، "رسالت" دارند، تا ارزش‌های «اکوره ختک» را درافغانستان مستولی و به سلیقه مولاناهای خبیث و انگریزمشرب پاکستان و در مسیر اهداف کلان آنک شورسوق نمایند.

طالبان با رسیدن به قدرت، تاجران دین و دین فروشان را متواری و فرار دادند و اما در عمل دین و آیین مردم را بگروگان گرفته و صاف و ساده فکر متحجر و دیوبندی خود را بمثابه «اصل دین» قرار می‌دهند و دساتیر امیرالمومنین خود را «عین» دین و واجب‌الرعایه می‌خوانند.

البته:

نقد "طالبانیزیم" نباید با انتقاد از دین مقدس اسلام تعبیر گردد و چه بسا که دین ستیزی هیچگونه سنخیت با روشنگری ندارد. (البته مباحث ریفورم در دین و نقد آن مربوط دانشمندان بزرگ دین است که در طول تاریخ اسلام و همین اکنون نیز شخصیتهای ارجمند به این مسأله می‌پردازند.)

این موارد را به ایجاز متذکر گردیدیم که تعدادی از خام اندیشی و یا بر وفق پلان و پروژه درین بیست و هشت سال و بویژه از راه اندازی "سریال دوحه" و تا اکنون، با خندیدن به ریش خود، از تغیر فکر رهبری طالبان سخن سرایی می‌نمایند. بی‌خبر از آنکه در نفس این سخن نیز عناصر از طالبانیزیم وجود دارد و در واقع همانند آنان می‌خواهند «فکر » دیگران را مطابق خواست خود «تغیر» دهند.

همین فکر طالبانیزیم عامل اساسی ناکامی طالبان در تشکیل دولت است، که نتواسته اند درین بیست ماه، برای حکومت سرپرست و «دیفکتوی» شان را که در واقعیت «ملا کراسی» (با حضورا شخاص شامل فهرست سیاه سازمان ملل متحد) تک صنفی و تک... شخص محور است، مشروعیت داخلی و بین‌المللی کسب نمایند. مقام امیرالمومنین بحیث تام‌الاختیار حکومت دیفکتوی طالبان، مانع اساسی ایجاد دولت مقتدر ملی منبعث از اراده آزاد مردم است. تناقض اساسی و تشویش در سطح ملی، منطقوی و جهانی این است که این عنوان محدود به مرز های افغانستان نمی‌گردد و به استثنای داعش، تمام گروه‌های تروریستی بین‌المللی مقیم در کشور ما به این "مقام" بیعت نموده اند. در حالی که دولت یک موسسه ملی و قلمرو مشخص است. و به یقین و در سرانجام این افراطیت مذهبی و "طالبانیزیم" طومار سیطره شان را درهم می‌پیچد.

اساس «امارت اسلامی» کدام است؟

ارکان اصلی این امارت به انکار از دو حاکمیت استوار است:

ــــ حاکمیت ملی

چنانچه تذکار یافت حاکمیت ملی بطور بلاتردید و انحصاری بمردم تعلق دارد. امارت، حاکمیت را "الهی" می‌داند و بر اساس این نظر، مردم را صغیر پنداشته و بدو گروه تقسیم مینماید: افضل الناس و عوام الناس.

گروه اولی «عدیم الاهلیت» و به فقط باید به « امارت و امیر المومنین» بیعت نمایند.

گروه دوم که شامل ملاها و علمای دینی اند، به تشخیص «امیر » می‌توانند در مباحث اشتراک نمایند.

ازینرو:

به عوض مراجعه به آرای عمومی و مردم به نظر افضل‌الناس مراجعه می‌شود که همانا مجمع بنام شورای اهل حل و عقد می‌باشد.

بدینترتیب:

فکر "طالبانیزیم" و «امارت اسلامی» در اساس و اصول خود به ارادۀ ملی، رای مردم و منجمله به چگونگی تبارز آن از طریق انتخابات و ریفرندوم و حتی لویه جرگه انتخابی، باور ندارند و چه بسا که آنرا مودل غربی و «کفری» می‌دانند. (آماج بحث ما فکر "طالبانیزیم" و امارت شان است و البته کم نیستند، گروه

های منادی اسلام سیاسی که به اصل انتخابات تمکین می‌نمایند)

بدون شک کلیپتوکراسی دو دهۀ اخیر به عوض دیموکراسی، انتخابات قلابی و تا افتضاح مراسم دو تحلیف در ی کروز و یک ارگ، تبر مدافعان فکر "طالبانیزیم" و «امارت اسلامی» را دسته داده است، تا حق انحصاری مردم را انکار و نقض نمایند.

اگر صادقانه و با چنگ زدن به منافع ملی افغانستان و خواست و ارادۀ مردم، راه حل واقعی مطرح نگردد، همانند همین بیست ماه که زیر نام «دولت همه شمول» و «تعامل» و «شریک ساختن اپوزیسیون» و سایر شعارهای مزورانه اجنبی، وقت کشی صورت گرفت و کدام «تغیر» بوجود نیامد، در آینده نیز مردم مظلوم بگرد این «سراب»ها، خون خواهد خورد.

پس راه واقعی حل کدام است؟

برای یافتن پاسخ دقیق به سوال نخست، باید از بحران شناخت دقیق داشته باشیم:

افغانستان که از قبل با بحرانات عدیده مواجه بود، در «نتیجه» "قرارداد دوحه" و حاکم ساختن طالبان، با بحرانات:

بزرگ حقوقی مشروعیت، انزوای بین‌المللی، فقدان دولت مقتدر مل

مواجه است که تداوم آن در احوال فقر گسترده، خطر سقوط اقتصادی، وقوع فاجعه بشری را تسریع و کشور را به جنگ داخلی و سوریه شدن سوق می‌نماید.

افغانستان در جهان یگانه کشور است که در بیست ماه اخیر فاقد دولت است و بخاطر فقدان مشروعیت ملی و عدم شناخت بین‌المللی کرسی آن در جامعه بین‌المللی خالی است (تسلط رژیم طالبان چنانچه خودشان می‌گویند، حکومت دیفکتو است)

برای مقابله با این بحرانات، ضرور است تا :

ـــ هرچه عاجل بخاطر مهار نمودن بحران حقوقی قانون اساسی (ولو موقت) نافذ گردد، و قوانین استمرار یابد. انفاذ قانون اساسی راه حل بحران مشروعیت را هموار می‌سازد، تا بخاطر اعمال حق حاکمیت ملی، زمینه تبارز ارادۀ آزاد مردم در تعیین نظام دلخواه شان ممکن می‌سازد.

در صورت توافق عوامل ملی و بین المللی بر اصول فوق، ضرور است تا روی مکانیزیم تحقق آن کار گسترده و تخصصی انجام یابد.

قانون اساسی، چتر بزرگ ملی است که تمام مردم افغانستان اعم از مرد و زن، پیروان تمام مذاهب، اقوام مختلف و منسوبان تمام دوره‌ها از رژیم شاهی تا طالبان، در پرتو قانون اساسی، با تدویر انتخابات به مردم مراجعه و برای نظام دلخواه شان تلاش نمایند.

قانون اساسی، نه تنها نظام سیاسی را تعریف و شیوه دولتداری را مسجل می‌نماید که در جامعه بشدت منقطب و پر التهاب افغانستان راه را برای تساهل اجتماعی، رفع تبعیض و تحقق حقوق شهروندی هموار و کشور کثیرالقومی ما را بطرف همگرایی، تفاهم و وفاق ملی می‌برد.

رفتن درین صراط المستقیم، افغانستان را بشاهراه صلح دایمی و پایدار که با مفاهیم (مصونیت، آزادی و عدالت ) تعریف می‌گردد، نزدیک می‌سازد.

بملاحظه می‌رسد که بدون قانون اساسی که نهادهای انتخاباتی را مشخص و چگونگی آنرا به قانون خاص محول نماید، صحبت از انتخابات، به معنی «حلوا گفتن» است که دهن را شیرین نمی‌سازد و تنها مصرف تبلیغاتی در عرصه ملی و بین‌المللی دارد.

با درک از مسایل و مصایب بسیار پیچیدۀ افغانستان، با چنگ زدن به مصالح علیای وطن عزیز و مشترک، انجمن حقوق‌دانان افغان قریب یکسال قبل فراخوان را بخاطر انفاذ قانون اساسی و استمرار قوانین مطرح نمود که با استقبال تعداد زیادی نهادهای سیاسی، اجتماعی، فرهنگی، مدافعان داعیه برحق زنان و دختران، حامیان حقوق و آزادی مردم و جوامع مدنی قرار گرفت و با سازمان ملل متحد و سایر مراجع بین‌المللی نیز گسیل یافت.

برای نیل به این مامول بزرگ ملی بمثابه حبل‌المتین، انجمن حقوقدانان در جلسه وسیع در کوپن هاگ (اکتوبر ۲۰۲۲ م) و با

اشتراک سایر نهادهای افغانی راه اندازی نهضت سراسری مدنی را مطرح ساخته است. تحقق این ماهول سترگ ملی، حل بنیادی مسایل و مصایب افغانستان را ممکن می‌سازد و بدون شک زمان گیر است.

منحیث حرف ختام با تاکید باید نوشت که:

عدم تمکین رهبری طالبان به منافع ملی و خواست برحق، انسانی و اسلامی مردم به مفهوم آن است که:

افغانستان را قربانی خواست های ایدیولوژیک و قرائت متحجرانه شان از شریعت می‌نمایند.

همیشه به یاد باید داشت که (د خلکو زور، د خدای زور دی) و هیچ حاکمیت در مخالفت با اراده و خواست مردم دوام نه‌مینماید.

افغانستان آماج تروریسم بین‌المللی، مامن امن آنان و ذهنیت تکفیری قرار دارد. مقدرات تاریخی کشور ما کماکان در کشمکش کلان جیوپولوتیک رقبای منطقوی و جهانی تعین می گردد.

جامعه بین‌المللی که مکلفیت اخلاقی شان در قبال افغانستان و مردم آن، اظهر من‌الشمس است، با اجتناب از رفتار کجدار و مریز، از اعمال حق حاکمیت ملی، انفاذ قانون اساسی و استقرار حاکمیت قانون که با دین و آیین افغانستان و ارزش‌های جهانشمول حقوق بین‌الملل مطابقت دارد، دفاع نمایند.

با حرمت



# پښتانه باسواداڼ ولې بې رهبره او بې لوري دي؟

د غازي اکبر لیکنه

تر ۱۳۵۷ کال وروسته جنګ د پښتنو په خپل منځ کې پیل، او تر منځ یې د تفاهم لارې بندی شوې. اوس چې د پښتنو ځوان روښانفکران غواړي سیاست وکړي او د هېواد ستونزو ته بنسټیز حل راوباسي، لار او ګودر نه شي میندلای.

سیاست جهانداري، مملکت داري، دولت داري او مردم داري ده چې لوی هدف یې د سیاسي واک نیول، چلول او ساتل دي. سیاست د کلي کور په سطحه هم کیږي او د هیواد او حتی نړۍ په سطحه هم. زموږ د کلیو زیاتره ملکان په خپله سیمه او سطحه پاخه سیاستمداران دي. خو لوی سیاست د هېواد په سطحه دی، ځکه کله چې یو ملت د تکامل تر ټولو لوړې څوکې ته ورسیږي، بیا دولت جوړوي او یوازې تکړه قامونه دولت جوړولای شي.

د سیاست د حلقو او پوښونو په منځ کې **قوم** مرکزي ځای لري چې د یو هیواد هویت او اساسي روایت ترې اخیستل کیږي. د امریکا د رهبرۍ په اصلي حلقه کې د انګلوساکسون او د روسیې په هغه کې روس قام ځای لري . د ازبکستان، ترکمنستان او تاجکستان هویت او اساسي روایت هم د ډېرو نورو هیوادونو په شان له ازبک، ترکمن او تاجک له نومونو څخه اخیستل شوی دی او طبعاً په افغانستان کې دا رول د پښتون په برخه دی.

په سیاست کې د منځنۍ حلقې **(قوم)** پر ګردچاپیر چې کله تکړه **رهبر** پیدا او په معینه **جغرافیه** کې پیاوړی **دولت** جوړ کړي نو بیا ترې د **عقیدې** یا ایډیالوژۍ او یا مفکورې وروستنی پوښ راتاو کړي چې له دغه وروستي پوښ څخه د دغه دولت او یا سازمان ډول مشخص شي. که نظریه ډېره پیاوړې وي، امپراطوري او حتی تمدن رامنځ ته کوي خو که عادي وي، نو یو ملي دولت جوړولای شي. شعار کله حقیقي وي او کله د سمبول تر کچې وي. په هر حال د اتحاد او یو ځای ساتلو سریښ همدا نظریه یا عقیده او شعار او روایت وي. دا وروستۍ حلقه په انسان کې د نوم او په یو سازمان کې د اساسي ارزښتونو رول لري. هوښیار سیاسیون هغه وي چې مرکزي حلقه پټه خو وروستنۍ حلقه (شعار او روایت) متبارزه وساتي. شعار کېدای شي کور، کالي، ډوډۍ ووي، اسلامي یا کوم بل معنویت لوړول وي، د بشر حقونه او ازادي ګانې تأمینول وي، ټولنیز عدالت راوستل وي او یا ملت پالنه، قوم پالنه یا هیوادپالنه وي. البته په مرکزي حلقه کې چې له یو قوم څخه محور جوړ شي، بیا پرې د نورو قومونو کوچنۍ حلقې راتاوېږي، او دا تقریباً عام رواج دی. که څه هم په غربي دموکراسیو کې د قانون له مخې د یو هیواد اوسېدونکي د مساوي حقوقو او شخصیت لرونکي ښاروندان دي او دا پرمختګ باید په ختیځو هیوادونو کې هم راشي، خو هلته هم پټه حلقه او د هېواد د ثبات محور یا استبلشمنټ اوس هم د یوه قوم په لاس کې دی. البته ورو ـ ورو به بشریت هغې سطحې ته لوړېږي چې د قوم رول کم شي او د عامو ښاروندانو رول مساوي شي، خو اوسنۍ واقعیت همدغه د یو قوم د محوریت دی.

دا د دې معنی نه لري چې هر څه به د همدغه یوه قوم په لاس کې وي، بلکې دولت به هیواد ته امن او ثبات راوړي او ټولو اوسیدونکو ته به حقوق او خدمات وړاندې کوي خو د هویت، تاریخ او روایت منشه به د هغه مشخص قوم څخه اخیستل کیږي چې مربوط هیواد یې جوړ کړی او یا یې د دغه هیواد په جوړولو کې بنسټیزه برخه اخیستې وي. په یوه ملي دولت کې



د سیاست او حاکمیت بیلابیلې حلقې په لاندې شکل کې ښودل شوي دي:

که تر اسلام مخکې د افغانستان تاریخ د اوس لپاره پرېږدو او ترې راوروسته دورې ته راشو، دلته هم په سیاست کې د قام رول استثناء نه و او تل حکومتونه د یو قوم پر محوریت متمرکز وو. د عربو تر واک وروسته په لوی افغانستان یا لویه ایریانا یا لوی خراسان کې (چې مرکزونه یې د افغانستان په اوسنۍ جغرافیه کې پراته وو) د طاهري او صفاري دورو حکومتونه (احتمالاً) د فارسیانو او ساماني حکومت د تاجکو په مشري رامنځ ته شول. بیا ترکتبارو غزنویانو، سلجوقیانو، خوارزم شاهانو، تیموریانو، بابریانو، صفویانو، افشاریانو (په ټوله خطه یا خاصو سیمو) واک وچلوه. (په دې منځ کې کله کله د نورو قومونو په مشرۍ هم لوی یا واړه حکومتونه جوړ شوي دي لکه د پښتنو په مشرۍ د غوریانو امپراطوري، د دري ژبو په مشرۍ د آل کرت او نورو کورنیو واړه حکومتونه او دولتونه ). تر هغه وروسته میرویس نیکه او احمد شاه بابا په اوسني افغانستان کې د پښتنو په مشرۍ دولت جوړ کړ چې (د امیرحبیب الله کلکاني د نهه میاشتنۍ، د شوروي د یرغل *(۱۹۷۹ – ۱۹۸۹)* د لومړیو نهه کلونو او د نوییمو کلونو په منځ کې د برهان الدین رباني په مشرۍ له محدودو او لړزانده مشریو پرته) تر اوسه دوام لري. البته پخوا هم د پښتنو په مشرۍ حکومتونه جوړ کړي وو: (په اوسني افغانستان کې غوریان او په هند کې لودیان، خلجیان او سوریان په دولت جوړولو بریالي شوي دي. همداراز د غزني د لویکانو، کابل شاهانو، د کونړ یوسفزیانو او نورو محلي واکمنیو مشرۍ هم پښتنو کوله.

د محمد ظاهر شاه د سلطنت په دوره کې مرکزي هسته او قومي رنګ سره له دې چې پښتون وو، خو ډېر څرګند نه وو او ولس د یو ملت پر لور روان وو. د نظام مشري او د پوځي او استخباراتي ادارو مشري یې پښتنو او ملکي اداره، فرهنګي برخه او بازار یې تاجکو او ترې وروسته سیدانو او قزلباشو ته سپارلي وو یعنې په بیروکراسۍ کې تاجکان، سیدان او قزلباش د خپل نفوس په تناسب څو چنده زیات وو خو بیا هم ولس په یو ډول راضي وو.

شعار یې له سني اسلام څخه اخیستی وو او له همدې امله هزاره ورونه و خویندې له یو څه محرومیت سره مخامخ وو.

کله چې سردار محمد داود د خلقیانو او پرچمیانو په زور د ظاهر شاه پر نظام کودتا وکړه، په پوځ او استخباراتو کې د پرچم نفوذ پیل شو. سره له دې چې لومړی پښتانه پرچمیان مهمو پوستونو کې وګمارل شول، خو ورو ـ ورو دغه دروازه د غیر پښتنو پر مخ هم خلاصه شوه.

د تره کي او امین په مشرۍ د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د خلق څانګې چې واک ونیو، د نظام مشري له پښتون سره پاتې شوه، د حکومت د هویت منشه بیا هم له پښتون څخه جوړه وه او نورو قومونو حساسیت نه ښوده. خلقیان له خپلو پښتنو (اخوانیانو) سره په شدیده مفکوروي جګړه اخته شول چې له دواړو لوریو د زبرځواکونو ملاتړ دغه جګړه تشدید او نه حیلېدونکې کړه. متاسفانه پدې منځ کې د شوروي اتحاد یرغل او داخلي فرصت طلبانو ته د افغان هویت خلاف د توطیې فرصت برابر شو.

ببرک کارمل چې له قدرت سره تر جنون هم زیاته مینه درلوده، او سره له دې چې نه پښتون او نه تاجک، بلکې کشمیری وو، خو د واک نیولو لپاره یې هرې وسیلې ته لاس اچوه. په خپله تذکره کې یې قام پښتون لیکلی و، خو د ورور (محمود بریالي) په تذکره کې یې قام تاجک وو. کارمل د شوروي له یرغل سره یو ځای راغی. د نورو تخریبونو په څنګ کې یې د پښتون قام له نوم څخه اخیستل شوی هیوادنی هویت تر سوال لاندې راوست او د ملي وحدت او ملي هویت ضد تخریبات د همده د واک پر مهال پیل شول.

حکمتیار، خالص، محمد نبي او نورو پښتنو مجاهدینو په وروستۍ حلقه (مفکوره) زیات تاکید کاوه او غوښتل یې د شوروي خلاف د افغان جهاد مشروعیت او تقدس ته تاوان ونه رسیږي. خو مسعود او رباني پوهیدل چې په دغه لویه حلقه کې دوی په خپله اندازه (کوچني) پاتې کیږي او له لاس ته راغلي فرصت څخه استفاده ورته ستونزمنه کیږي، نو یې خپل ګوندي ملګري د قوم او قومي بیدارۍ له مفاهیمو خبر او ویښ او تیار

کړل. له بلې خوا يې له نړۍ سره داسې تعامل وکړ چې د (سخت دريزه اسلامي حرکتونو) په مخنيوي کې د مرستې په بدل کې دې د افغانستان د مشرۍ په نيولو کې د دوی ملاتړ وکړي.

پښتانه څه د بدې طالع او څه د مشرانو د سرزورۍ له امله د زبرځواکونو د يرغلونو تر هدف لاندې راغلل، په نتيجه کې يې تشکيلات تقريباً ړنګ شول او کومه داسې ډله او رهبر پکې پيدا نه شو چې ټول پښتانه پرې راټول شي. په يوه فکر او يوه ډله کې د ټولو پښتنو راټولول چې د هېواد تر ټولو لوی قام دی، ستونزمن دي، نو ځکه د جهاد او جګړو په کلونو کې د پښتنو تر منځ شديد فکري تقابل موجود پاتې شو. که له يوې خوا خلقيان له مجاهدينو سره جوړ نه شول، له بلې خوا ملي ګرا او دموکراتو پښتنو مشرانو او کادرونو هم د اسلام ګرا تنظيمي نيمه نظامي ډلو له فکر او کاړدول سره ځان نه شو عيارولی او غوښتل يې له نړۍ خصوصاً غرب سره خپل فکري او ارزښتي نږديوالی وساتي. خو برعکس غرب ته د شوروي اتحاد ځپلو لپاره د شديدې انګيزې لرونکي مجاهدين پکار وو، نو ځکه ملي ګرايانو وده ونکړه. دا ستونزه تر اوسه شته او پښتانه دموکراتان او ملي ګرايان د تشکل د نشتون له شديد بحران سره مخ دي.

خو برعکس د تاجکو مجاهد، خلقي ـ پرچمي او دموکرات؛ همدا راز کليوال و ښاري، باسواد و بې سواد او ښځه و نر ټول مسعود خپل اتل ګڼي او رباني خپل مشر. هزاره په همدغه ډول د اتلولۍ او مشرۍ دغه مقام مزاري ته ورکوي او ازبکان يې دوستم ته، خو پښتانه نه د تيرو پنځوسو کلونو د جګړو واحد رهبر لري او نه اتل.

لا تر اوسه هم د افغان سياست صحنه نظامي او اضطراري ده او دري نظامي ـ سياسي قوتونه پکې مطرح دي: ط ـ ال - ب ان، نظار شورا/ جمعيت او دا - ع - ش. (حزب وحدت، جنبش او حزب اسلامي چې اوس خلع سلاح دي، هم بيرته د نظامي ـ سياسي کيدو پوټنشيل لري).

اوس پښتانه روښانفکران د دغو درې طرفونو (ط ال ب، نظار شورا / جمعيت او د ا ع ش ) په منځ کې له يوه سره هم نه دي. **يعنې پښتون روښنفکر نه له کوم طرف او لوري سره دی او نه پخپله کوم طرف او لوری دی.** نو ځکه په سياسي مسايلو کې يې موضعګيري زياتره پخپل زيان تماميږي. که چيرې يو وخت داسې فرصت پيدا شي، چې د پښتنو په مشرۍ يو لوی ملي ـ ولسواک ګوند جوړ شي، چې مفکوره يې د معتدل اسلام او ولسواکۍ له يو امتزاج جوړه شوې وي، نور قومونه له ځان سره ملګري کړای شي او افغانستان شموله حرکت شي، بيا پښتانه روښنفکران هم کولی شي ورسره (په عملي يا فکري ډول) ملګري شي، خو اوس انفرادي موضعګيري د دوی په ګټه نه ده. او ګټه يې يوې يا بلې ډلې ته رسيږي چې په هيڅ صورت ښه بديلونه نه دي، بلکې د زياترو نظروالو په فکر دغه درې واړه ډلې د بد، بدتر او بدترين تظاهرات دي. د روښانفکرو او انساني فکر لرونکو انسانانو په توګه بايد د بد، بدتر او بدترين يوه ملاتړ هم ونه شي. البته ملاتړ کله غيرمستقيم او غيرارادي وي، يعنې د روښنفکرانو په ليکنو او کړنو کې په ناغوښتل شوي ډول د يو لوري موقف پياوړی کيږي.

د جمهوريت پر مهال په عدليه وزارت کې ۱۰۷ حزبونه ثبت وو، چې يو يې هم د اوسنۍ زمانې په معيارونو برابر نه وو. زياتره واړه او غير متجانس ګروپونه وو چې له خپلې لارې او مفکورې هيڅ خبر نه وو. البته په منځ کې يې د ښه نيت او ارادې لرونکي اشخاص موجود وو. زما د نږدې (فرهنګي) ملګرو څخه لږ تر لږه لس کسانو د دغسې وړو ډلو د مشرانو په توګه جلا جلا فعاليت کاوه. ما د دوی ځينو ته لس کاله مخکې چلنج ورکړی وو چې که مو شل کسان يو کال له ځان سره وساتل، تاسو يو تشکل جوړولی شئ، خو فکر نه کوم دوی هغه شل کسان يو کال په يوه لار تللي وي، چې ګډ کار يې سره پيل يې کړی وو.

له ډېرو دا هم اوريدل کيږي چې کيدای شي، نړۍ بيا افغانستان ته د تللو اراده وکړي، او که موږ ځان مطرح وساتو، ممکن له ځان سره مو بوزي. فکر نه کوم چې د دغسې خيال نتيجه دې يا ملي خدمت شي او يا وجداني ارام. له بهره اغېزناکه مبارزه نه کيږي، خو د بهرنيانو په ټانک يا الوتکه کې واک ته د رسېدلو چانس کله کله پيدا کيږي چې د تېرو تجربو پر بنسټ باعزته بديل نه دی او اوس يې چانس تر صفر پورې ټيټ ښکاري. يو ځل بيا افغانستان ته د بهرينو لښکرو تلل کم احتمال هم نه لري، نو دغسې کسان دې د بهرنيانو په زور هيواد ته تلل له مغزو وباسي.

په اوس وخت کې تر هغه چې یو ملي ـ ولسواک قوت جوړېږي، د روشنفکرانو دنده ده چې د ښاروندۍ د حقوقو پر بنسټ د ولسواکۍ، پرمختګ، عدالت او انکشاف لپاره ذهنیتونه اماده کړي. د تاریخ سیر دا ښیي چې د یو هېواد مشري هغوی کوي چې د هیواد په دننه کې مبارزه کوي. بهرمیشتي چې زيات څه کولی شي، اډوکسي او حمایت جلبول دي. په ذهنونو او دماغونو دې کار وکړي، او د افغانستان د خیر لپاره دې په سوله ایزو لارو مدني او علمي مبارزه وکړي.

اوس چې معلوماتي ټکنالوژۍ او انټرنټ نړۍ یوه کړې او د علم او پوهې سمندرونه یې سره یو کړي دي، پدې برخه کې ډېر زيات کار کېدای شي. روښانفکران دې د علم او معلوماتو له دې سترو سمندرونو څخه په استفاده دې نوي کتابونه ولیکي، وژباړي او خپاره کړي. د زده کړې او تعلیم او تعلم لپاره دې ترې استفاده وکړي. ویب پاڼې دې جوړې کړي، له مصنوعي ذهانت څخه دې د علم، معلوماتو او نورو امکاناتو په خپرولو کې کار واخلي او ولس دې په فکري ډول وروزي.

که کوم ملګري داسې شوق لري چې یو منسجم او پیاوړی سیاسي قوت جوړ کړي، نو باید د تېرو مشرانو تاریخ ولولي چې هغوی د دغسې حرکت د جوړولو په کار کې تر څومره هڅو او خوارۍ وروسته بریالي شوي دي چې کادرونه منسجم او وروزي او له ځان سره یې وساتي او واک ونیسي. دوی هر یوه شپه و ورځ کار او مبارزه کوله او یوه شېبه له دغه کاره نه غافلیدل.

د سیاسي تشکل جوړولو لپاره لومړی پیاوړې انګیزه، بیا منسجم تشکل، تکړه رهبر، وفادار او مبتکر کادرونه، هره شېبه قربانۍ ته تیار صفونه او دوامداره مبارزه پکار ده. له داخلي او بهرنیو سیاسي اړخونو سره اتحادونه، مانورونه، د متقابلو ګټو، ارزښتونو او باور پر بنسټ اړیکي، اتحادونه او ائتلافونه یې هم له ستراتیژیو څخه دي. تبلیغ، دعوت، پروپاګنډ او د مخالف لوري انګیزه او شعار ننګول هم د دوی یوه دنده ده. سوله ایز او جګړه ایز بدیلونه، چل او هنر او حکمت، سازش او تعامل او معامله ټول پکې ممکن دي. خو بریالي سیاستمداران هغه دي، چې پر دغو ټولو سربېره د خپل ولس د راټولو رګ او رمز پیدا کړي.

په افغانستان کې د ثبات مثلث د ملا، ملک او حاکمیت له اتحاد جوړېده چې د ثور په انقلاب سره دغه مثلث مات شو. هغه مشران او ډلې چې د بهرنیو په زور راغلي وي، تر هغه دوام کوي چې د بهرنیو فزیکي حضور یا دوامدار مالي، اطلاعاتي او نظامي ملاتړ ورسره وي. هغه چې د ولس له منځه راټوکېدلي وي، د دوام چانس یې زيات دی، خو چې ولس ته امنیت، خدمات او عدالت ورکړي. او دا چې بهرنی فکتور هم مهم دی، د لویو قوتونو له ملي ګټو سره ټکر ونه کړي، ځکه لوی قوتونه ورته داخل کې هم ستونزې جوړولی شي، ګاونډیان هم ورته لمسولی شي او مستقیم یرغل هم پرې کولی شي. هوښیار افغانان دې د افغانستان ملي ګټې د لویو ځواکونو له ملي ګټو سره په تقابل کې نه، بلکې په نږدیوالي او لږ تر لږه نه ټکر کې تعریف کړي.

که کله شرایط جوړ شول او داسې تکړه رهبر پیدا شو چې د زده کړو او منورو افغانانو یوه پیاوړې کتله یې پر ځان راټوله کړه، بیا په باعزته ډول د سیاسي واک نیولو چانس هم تر لاسه کولی شي.

**نه یې ویني که په قصد کوي شیطانه منافقه**
**زه مړ کیږمه ته چُپ یې، مُسلمانه منافقه**
**د ځوانانو، اتلانو، د ښارونو قاتل ته یې**
**ورځ به راشي بیا به ګورو پاکستانه منافقه**

**شهید ارمان لوڼي**



# د بدلون له ډار اخوا



## قدرت الله هېوادپال

ویره د یو څه له لاسه ورکولو احساس دی، د ژوندانه پر رواجونو، د بل په تله د پوره نه راتلو احساس دی، د ناکامۍ ویره چې که چیرې دا نوی چاره یا پریکړه سمه رانه شي نو زه به خلکو ته څه وایم، زه به ځان او هغوی څرنګه قانع کوم چې هر څه سم روان وو تا ته چا ویل چې بدل یې کړه، خو وده له ویرې اخوا پیلیږي او بدلون غواړي.

بشر ته زړورتوب، سخا، له ځانه تیریدل او نور ورته ښه صفتونه دي، ویره بده ګڼل کیږي، ډارن ښکنځل دي، خلک زوړتیا ستایي خو تل یې له بل غواړي. خپل ډار توجیه کوي خو په بل کې یې بد ګڼي. بدلون غواړي خو خپله دا بدلون نه پیلوي.

کله چې یې له بل غواړي نو پریکنده او عقلي عمل غواړي، خو کله چې پر ده راشي، چې ځان باید بدل کړي نو بیا احساساتو ته ځي، او شته حالت لپاره لاملونه لټوي.

بزنس فیلسوف پیټر کوئستنبام وایي هر کله چې موږ یوې چارې ته لاس اچوو او خطر قبلوو نو عموماً له څلور ډوله ویرو/ ډاره تیریږو، لومړی د حماقت ویره، دوهم د پریښودنې ویره، دریم د سپکاوي ویره او څلورم د لیونتوب ویره.

**۱ – د حماقت ویره**

څومره به مو اوریدلي وي چې یو څوک بل ته وایي "خر خو نه یې" یا "ته له دې ټولنې خبر نه یې" "دا کتابي خبرې دي، له واقعیت سره هیڅ اړخ نه نیسي" همداسې نورې ډېرې وېناوې، هر کله چې موږ د حماقت ویره یادوو دا له ټولنې د لیرې والي ویره ده، دا ویره ده چې خلک به ما ته د کم عقل فکر وکړي، قدر به مې کم شي، زه نه غواړم په اقلیت کې واوسم، داسې څه شته چې د ټولنی اکثریت یې ویني او زه یې نه وینم، که ټول په یوه لار روان وي زه څه بد کړم چې پدې بله روان یم.

دا ویره ده که لاره بدله کړم خلک به راپورې وخاندي.

**۲ – د پرېښودو ویره**

ویریږم چې ملګري به مې پریږدي، بې نومه بې نښانه به پاتې شم، څوک به راسره مړی ژوندی نه کړي. خیر نن د فیسبوک په زمانه کې هر یو زر دوه زره مقتدیان لري، هر یو پسې لیکل کیږي چې دا هېواد پر تاسې ویاړي، زموږ فخر یاست، دولت دې تا ته وزارت درکړي، خو دلته له انسان سره دا ویره وي چې بې نښانه او ناپیژندلی پاتې نه شي.

داسې یو حالت چې وغړیږي خو څوک یې غږ وانه وري، وایي وري خو ځواب ورنه کړي، داسې چې دا فکر ورسره پیدا شي چې نظر زما وو خو نوم پرې د بل ښه شو، دا ویره چې زما وړاندیزونو ته څوک غوږ نه نیسي، په غونډو کې له ما صرفنظر کیږي. زه درس ورکوم خو خلک زده کړې ته تیار نه دي، یا چې کله مې شروع کړه، نو کوټه ډکه وه، اوس نیمه خالي ده.



دا ویره که وغړیږم یا یو څه لپاره ودریږم، خلک به مې پریږدي، ملاتړ به لاسه ورکړم.

**۳- د سپکاوي ویره**

عامه محضر کې به راته سپکاوی وشي او تحقیر به شم. د تباه کیدو ویره. زما هغه رازونه چې ټول عمر مې د هغې په پټولو کې هڅه کړې رسوا به شي، اداره به د ټولو په مخ کې ما د نمونې په توګه یاد کړي، او وایي به چې موږ داسې څوک نه غواړو. د اداري واکداره به مې ورټي، که چیرې پر توقعاتو یې پوره رانغلم.

زما بودجه به له ما واخلي. کار به مې بې ارزښته شي. دا ویره چې د غونډې په پای کې راته رئیس وایي چې کار درسره لرم، یا له رخصتیو راستون شم او اداري ساتونکي مې له لارې ستون کړي او زما شیان به راوسپاري چې په مخه دې ښه. یا کله چې دفتر پرېږدم د اداری امنیتي کارکوونکي راته په سر ولاړ وي چې څه غلا نه کړم.

دا ویره که ودرېږم ځوک به مې وولي، سپک به شم، تحقیر به شم. هغه نوم او نښان چې لرم له لاسه به یې ورکړم.



**۴ – د لیونتوب ویره**

هغه احساس چې تاسې داسې څه وینئ چې نور یې نه وینئ. خلک داسې عمل کړي چې هر څه سم دي خو په حقیقت کې نه وي، موږ له ځان سره دا نه منو چې زموږ ژوند عبث روان دی. که په قهر شو نور راته وایي چې مه په قهرېږه، له نورو دې تمه ډېره وي وایي چې حوصله کوه. جلسو ته ولاړ شئ ښه پوهېږې چې هسې د وخت ضایع کول دي خو ټول وایي چې ډېره ښه جلسه وه.

رئیس یا د اداری مشران پریزنټشن ورکوي چې له واقعیته ډېر لیرې وي، خو ټول ترې مننه کوي چې بهترین پریزنټشن وو او له فرصت څخه مننه. موږ له تشویش او شخړې سره عادت شو، نیمه شپه راپاڅیږو پرې فکر کړو. څنګه کولای شي چې د جلسې وخت بدل کړي او موږ هیڅ خبر نه یو. او په نتیجه کې ځان ډېې ته کوو او په اخیره کې هڅه هم له لاسه ورکوو، هیڅ کوښښ مو له لاسه نه کیږي.

دا ویره که د بدلون هڅه وکړم یا ودرېږم نو د لیوني په نامه به مې خلک له ځان سره یوسي. خلک به راته ووایي چې ماغزه دې خراب دي.

د مسلکي او شخصي ژوند ویرې عموماً د کورنیو او ټولنو له توقعاتو راپیدا کیږي، له وړوکوالي ماشومانو ته ښودل کیږي، له ساده (بوو) نیولي تر پیریانو او نورو څخه ویرولو تر دندې له ترلاسه ورکولو تر ویرې دا ټول انسان کسبوي، یعنې زده کوي یې، چې له همدې کبله د بدلون قبلول او له ویرې راوتل هم باید زده شي.

پر دې ویرو سترګې پټول ځان تیر ویستل دي، له ځانه لیرې والی دی، دا چې له ډېرو به واوری زما خپله وظیفه نه خوښیږي خو د معاش یوې وسیلې په توګه یې کاروم، یا هر دوهم نفر بلې وظیفې پسې ګرځي.

پر دې ویرو نه پوهېدل یا یې نه مطرح کول بې زحمته بریالیتوب غوښتل دي، انسان باید ځان وپیژني، اداره باید د دې انسان قدر وکړي، ویره د بشري احساساتو یو تر ټولو خامه، ریښتوني، خپله او داخلي برخه ده.

هر کله چې موږ وغواړو د خپل ژوند واک په لاس کې واخلو، موږ به دا ویرې احساسوو، د تاریخ هر بریالی شخص که مذهبي وي یا دنیوي، د خلکو له غبرګون او د ټولنې له مقاومت سره مخ شوی دی، هغه څه چې د ټولو لپاره کار کړي ضرور نه ده چې ستاسې لپاره دې هم کار وکړي.

ځینې وخت به له سپکاوي سره مخ کیږو، خلک به مو پرېږدي، هر ابتکار له لیونتوبه تیریږي. که موږ دا خام احساسات ونه لرو نو څنګه به د خپل ژوند مالکیت واخلو، څرنګه به خپل ژوند ته خپل ووایو، څرنګه به ووایو چې دا کار زما دی، پداسې حال کې چې چیرې دا ویرې احساس نه کړو، نو ممکن هیڅ کار مو نه وي کړی، هسې مو هغه څه کړي وي چې راته آسانه او ځان راته پکې آرامه وي.

انسان له مرګه ویریږي، خطر قبلول مرګ رانږدې کوي، ناکامۍ کوچنې مرګونه دي، خو همدا کوچني مرګونه، ناکامۍ، او ویرې دی چې انسان ته د بریالیتوب او خوشحالۍ هیله ورکوي.

له ویرې تیر شئ، کوچني مرګونه وزغمئ، خو تل پوه شئ چې بې زحمته راحت نشته، او هغه څه ته چې رسیږئ، له هغو ډېرو ښه یاست چې د همدې ویرو، ناکامیو، پریښودلو او لیونتوب نومونو له ویرې آن د لومړي ګام او پیلولو جرات هم نه دی کړی.

# د شمال د ناقیلنو په اړه د لطیف پدرام اخطار ته ځواب!




ليکوال:کاندید اکاډیمیسن اعظم سیستاني

ژباړن: سمیع الله سیال او فاطمه سیال


د شمال ځینې ناقلین، هغه پښتانه، هزاره ګان او بلوچان دي، چې د بغاوتونو له امله، د هندوکش جنوب څخه د هندوکش شمال ته د امیر عبدالرحمن خان لخوا تبعید او په دولتي ځمکو کې میشت کړل شو. د افغانستان له استقلال وروسته، ۱۹۲۰ م کال کې تقریباً د هند ۲۰ زره مسلمانان له هند څخه افغانستان ته هجرت وکړ، د افغانستان دولت هغوی ته ښه راغلاست ووایه، په کابل، پروان، بغلان، بدخشان او قطغن کې هستوګنځایونه او د کښت لپاره ځمکه او غنم ورکړل. هندي مهاجرین ورځ په ورځ زیاتیدل، دولت د اعلامیې په خپرولو د مهاجرینو د نه منلو له امله بخښنه وغوښتله. خو ډیره موده تیره شوې نه وه چې هندي مهاجرینو افغانستان ته له راتګ څخه پښیمانه او بیرته هند ته ستانه شول.

د غبار په قول، په لومړني کاروان کې ۲۵ زره هندي نارینه، ښځې، ماشومان او ډیر عمر لرونکي افغانستان ته داخل شول. دولت د مهاجرینو نظامنامه په اتو فقرو کې ترتیب او خپره کړه، چې د هغې مطابق په افغانستان کې د هر مجرد مهاجر لپاره شپږ جریبه ځمکه او د متاهلینو لپاره اته جریبه زراعتي ځمکه د زراعتي تخم(في جریب شپږ منه غنم) سره او پنځه روپۍ نغدي، او د فصل تر رسیدو پورې د هر بالغ فرد لپاره د میاشتې پنځه منه خوراکي اوړه او هر نابالغ شخص ته درې منه خوراکي اوړه ورکول کیږي. ځمکو څخه تر درېیو کلونو پورې مالیه نه اخیستل کیږي. مسلکی اشخاص دولت کې استخدامیږي. خو کوم مهاجرین چې د افغانستان د اب هوا او کار توان نه درلود، له هجرت څخه پښیمانه شول، او تقریباً ټول بیرته هند ته ستانه شول.(غبار، ج ۱، ص ۸۰۱)

خو ارواښاد پوپلزایي د هند د مهاجرینو تعداد ۱۲ زره لیکي، چې ۱۲۹۹ هـ ش کال د جوزا په لومړۍ نیټه کابل ته داخل شول، او یو میاشت د کابل د خلکو میلمانه ول. موقتي هستوګنځای یې جبل السراج وو. د کوهستان او پنجشیر حاکم محمد امان خان د مهاجرینو امورو ته د رسیدګۍ مسول وټاکل شو، ترڅو هغه مهاجرین چې د ځمکې غوښتونکي دي، خان اباد او قطغن ته انتقال کړي؛ ځمکه، هستوګنځای او خواړه ورته ورکړي.(سلطنت شاه امان الله و...، بخش اول، صفحات ۲۷۴-۲۸۰-۲۸۲)

خو کوم پښتانه مهاجرین چې بغلان، کندز او بدخشان ولایتونو کې په خپلو ځمکو کې ژیار ویستلي وو، پاتې شول؛ هند ته ستانه نه شول، او اوس هم بدخشان، تخار او کندز کې د ډیورنډ کرښې هغې غاړې څخه راغلي پښتانه ژوند کوي.

د هندوستاني مهاجرینو پسې د **پار دریا**(فرا دریا) د مهاجرینو غټه جوپه ۱۹۲۰ م کال کې افغانستان ته داخل شو. د افغانستان دولت د محدود امکاناتو باوجود هغوی ومنل او په مزار، میمنه، شبرغان، بدخشان، قطغن او بغلان کې هستوګنځایونه ورکړل.

ډاکټر زیرکیار پخپله مقاله کې چې د **ملیت، ملت، ملي ستم او خراسان** تر عنوان لاندې افغان انلاین جرمن پورټال کې

خپره کړې، د **کې جي بي جاسوس واسلي متروخين** له قوله ليکلي:«په ۱۹۱۷ کې د لينن په مشرۍ، روسيه کې بلشويک/کمونيستي نظام د پخواني تزاري نظام ځای ونيوه. کله چې بلشويک/کمونيستي واکمني په مرکزي اسيا کې برلاسی شو، ګڼ شمير- اووه نيم لکه(۷۵۰۰۰۰) تاجکان، ازبکان، ترکمنان او کرغيزيان افغانستان ته پناه ويوړه.»(وسيلي ميتروخين، کې جي بي په افغانستان کې، واشنګټن ډي سي، ۲۰۰۲، تجديد ۲۰۰۹، په انګريزي ژبه، ۱۷ مخ.)

افغان څيړونکی، ژباړونکی او پياوړی نظامي شخصيت نورالحق نبي زاده سلی، پخپله مقاله کې(**افغانستان ته له روسيې او چينايي ترکستان څخه راغلي کډوال**) ليکي: په شلمه پيړۍ کې ۹۰۰ زره تنه روسي ترکستانيان او چينايان، افغانستان ته راغلل چې په هغو کې بلشويکي، جاپاني، جرمني او ترکستاني جاسوسان هم وو.

بناءً د شمال ناقلين پوازې پښتانه، هزاره ګان او بلوچان ندي چې د بغاوتونو له امله، د هندوکش جنوب څخه د هندوکش شمال ته امير عبدالرحمن خان لخوا تبعيد او په دولتي ځمکو کې ميشت کړل شو. او وروپسې حکومتونه د هغوی تعداد زيات کړل، نظامي متقاعدينو او بلند رتبه ملکي مامورينو ته د تقاعد معاش پر ځای د هيواد په شمال کې ځمکې ورکړل شوې، ترڅو د هيواد په ابادۍ او سمسورتيا کې برخه واخلي.

**د دوی څخه علاوه د شمال ناقلين ۷۰۰ څخه تر ۷۵۰ زره – ترکمنان، اوزبکان، قرغيزيان او تاجکان هم تشکيلوي، چې د بخارا تر اشغال وروسته د روسانو په واسطه ۱۹۲۰ سپټامبر کې افغانستان ته په تيښته مجور شوي وو. ددغو تښتيدلو اکثريت برخه د ازبکانو ترڅنګ هستوګنځايونه جوړ کړل، کوم چې له شپاړلسمې پيړۍ څخه د شيبانيانو تر استيلا(غلبه) پورې افغانستان ته راغلل او همدلته پاتې شول. خو تاجکان چې د ماوراءالنهر(پار دريا) تښتيدلو سره او د ازبکانو، ترکمنانو او قرغيزيانو سره افغانستان ته داخل شول، ځينو يې ځانونه پنجشير درې ته ورساوه او هلته ميشت شول. د افغانستان دولت هم د محدود امکاناتو باوجود هغوی ته پناه ورکړه، ترڅو د کمونيزم خونړۍ افت څخه په امن پاتې شي. خو متاسفانه چې د بخارايي ناقلينو او مهاجرينو په صف کې د بلشويک دولت جاسوسان داخل شول، د نفاق، شقاق او سمت پرستۍ زړې وکرلې.**

ځوان ليکوال مصطفی عمرزی د رستم په شان په پوازې ځان د افغانستان تجزيه کيدونکو سره جنګيدله – افغانستان ته د بخارايي مهاجرينو راتګ او د هيواد په شمال کې قومي ترکيب رامنځته کيدو په غبرګون کې ليکلي: ددغو مهاجرتونو ريښه هغه مهال ته رسيږي، کله چې د افغانستان د هغه مهال دولت انديښمن کيږي، داسې نه چې د افغانستان د شمال قومي ترکيب، په ځانګړې توګه شمال ختيځ، د افغانستان طبيعي او سياسي تناقض شرايطو سره واقع شي. د اعليحضرت شاه امان الله خان نظامنامې د ټولنې د قانونمندۍ برخه کې ډير مهم ګڼل کيږي. بناً د مختلفو مسايلو اړوند لسګونه نظامنامې ليکل کيږي، او نشريږي.

د قطغن پر لوري د شمال ناقلينو نظامنامه(۱۳۰۷ – قوس – ۹ (۱۹۲۸ م): يو لاربښوود و، ترڅو د هغو عوارضو مخنيوی وکړي کوم چې اټکل کيده وسلوال مهاجرين د شمالي سيمو امنيت ګواښوي. نو دولت مکلف دی چې ځايي خلک هغو سيمو ته واستوي، چېرته چې د دوی همتباره اوسيدل. خو ګڼ شمير مهاجرين او نوي راغلي ناقلين د سيمې د بې ثباتۍ سبب وګرځيدل. د حکومت انديښنه بې ځايه نه وه. د لومړي سقوي ارتجاع د بلوا په پايله کې د منځنۍ اسيا ځينې تښتيدلي کسان، ډير ژر خپل نمک حرامي وښودله او د سقوي پيروانو په صف کې ودريدل. ابراهيم بيګ لقي، کابل ته له داخليدو مخکې د حبيب الله کلکاني په جرګه کې ونډه اخلي، کوم کسان چې شمال کې ميشت شوي وو، خپل پلرنی ټاټوبی يې پرديو ته پريږدي، په سختو ورځو کې کوم افغانان چې په ټولنيز هرج او مرج کې ضعيف شوي وو، افغانستان

ورته په فرهنګي، قومي، ژبنی برخه کې داسې یو فرصت ښکاره شو، چې کولی شي هلته کوربه شي.

ښاغلی عمرزی د استاد خلیلي د یادښتونو له کتاب څخه جالبې ټکي نقل کړي دي:«عابد نظر مخدوم – مشهور په خلیفه قزل آیاق... او ملا آدینه... دغه دوه کسان، د حبیب الله خان د سلطنت په تحکیم کې ستر رول لوبولی. پر بخارا باندې د روسانو تر یرغل وروسته، خلیفه قزل آیاق د خپلې کورنی سلګونو غړو سره افغانستان ته راغی. شبرغان کې یې خانته خیمه ودروله. د غالیو سوداګري او اسونو روزنې له لیارې یې ژوند کاوه. تقریباً ۱۰۰۰۰ وسلوال سرتیري یې همیشه اماده باش به وو.» ابراهیم بیګ بخارایي(مشهور په لقي او باسمه چي) له سید حسین سره وو. هغه څو ځلې له روسانو سره جګړه وکړه. د روسانو جنګي تکتیکونو سره بلد وو. ۵۰۰ بخارایي ملګرې یې درلود. چې هر څه و، د داخلي مرتجعینو د لاسونو په لنډیدو، ځینې بخارایي اوباشان د ابراهیم بیګ لقي په شمول بیرته د امو هغې غاړې ته وتښتیدل، خو زرګونه نور همدلته پاتې شول.

ښاغلی عمرزی زیاتوي:«د هغې پیښې او بخارایي تښتیدلو څخه کلونه وروسته چې کوم کسان دلته پاتې شول، نوي هیواد ته یې درناوی وکړ، زموږ قدرمن او شریف وطنوال شمیرل کیږي. خو د خپل پلرني ټاټوبي څخه پخوانی ذهنیت او فکر چې د بحران له وجې پر افغانستان تحمیل شو، له هر څه نه ډیر دې هیواد ته زیانمن دی. په هر صورت د اماني حکومت او له هغې وروسته حکومتونو په زرګونو جریبو ځمکو باندې د ګڼ شمیر ناقلینو وړیا مالکیت ته احترام کوي.

ښاغلی عمرزی د خپل مقالې پای کې لیکي:«زموږ د بیان او وضاحت هدف د مهاجرینو بیرته ستنیدل ندي، بلکې هغو کسانو ته ځواب دی، چې هیاهو او بې ځایه بحثونه را پورته کوي. او هر ځلې یې هیریږي چې سل کاله وړاندې پلرونه او نیکونه یې افغانستان ته راغلي، نو ددې ځای نوم افغانستان وو، خلک یې افغان بلل کیده. د ډیرو مالوماتو لپاره دې (بخارای مفلوک)کتاب ته مراجعه شي. ناخلف پاتې شوني چې موږ پخپل کور کې د پردیو په مقابل سپکوي، ډیره جالبه ده.»

**۵۵.»(عمرزی،مخالفان تنها میمانند،پورتال افغان جرمن آنلاین)**

ډاکټر حسن شرق، د امیر عبدالرحمن خان په امر شمال ته د پښتنو اجباري کډې په اړه لیکي:«**سمتیان چې څه وایي درست ندي. د هلمند له سوزنده او لامزرع دښتو څخه نیولې تر هرات او بادغیس پورې مغضوب شوي او شړل شوي خلک په اجباري توګه په شمالي ولایتونو کې په ازاده فضا او د ژوندو په ډیرو کمو وسایلو میشت شول. خو له نیکمرغه په ټولو ځایونو کې او په ځانګړې توګه اوزبکانو او بومي تاجکانو د امراوو د تمې خلاف، شړل شوي خلک په غېږ کې ونیول او ښه راغلاست ووایو. هغوی هم په ارامه فضا کې کلونه کلونه د متو په زور او د ګوتو او لاسونو په تناکو شاړه او لامزرع ځمکې ودانې او ښیرازې کړې، ترڅو د خپلو بومي ورونو ترڅنګ ژوند وکړي. هغوی د بومي خلکو سره وتړل شول، خپلوي یې سره وکړل. خو کله چې د ثور اوومې کړغیړنه پیښه رامنځته شوه، سمتیانو د ملت وزارت جوړ کړ، ترڅو افغانستان په شمال او جنوب حکومتونو وویشي او د پښتنو، ازبکانو، تاجکانو او هزاره ګانو ترمنځ د بدبینۍ تخم وکري»** (ډاکټر حسن شرق، تاسیس وتخریب اولین جمهوری افغانستان، دریم چاپ، ۳۱۲ مخ)

**له بدمرغه د پښتون ځپلو ذهنیت د ډیموکراسۍ په لسیزه کې او پر افغانستان د شوروي اتحاد له یرغل وروسته ژوري ریښې وکړې، او د پښتون ضد مسلح ډلو په زړه بوږنونکي قتلونو او تخریبونو لاس پورې کړ. د مولوي قره داستان او په فاریاب کې د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال د پښتنو نسل وژنه د انسان د بدن ویښته زیږه کوي!**

د شمال پښتنو پر وړاندې د لطیف پدرام قومي تصفیې سیاست د جمعیت اسلامي او ملي جنبش قوماندانو لخوا د رشید دوستم په واسطه اعمال شو؛ یو ځلې نه، بلکې دوه ځلې د هیواد په شمال کې پښتانه له داسې قومي کرغیړونو کړنو سره مخامخ کیږي: لومړی ځل په ۹۰ مه لسیزه کې د برهان

الدین رباني د حکومت او په شمال کې د عبدالرشید دوستم د اقتدار پر مهال د قومي تصفیې سیاست په لاره واچول شوه، ترڅو پښتانه د شمالي ولایتونو څخه په اجباري توګه په وباسي او هر څوک چې ددې حکم په تعمیل کې ځنډ کاوه، بې درنګه وژل کېده؛ ډېرې پښتونې کورنۍ د عبدالرشید دوستم او جمعیت اسلامي قوماندانانو لخوا په بې رحمانه توګه ووژل شول، د غنمو خرمنونه او په ثمر رسیدلي محصولات یې سوزول کېده، ترڅو چې ط.لبانو ظهور وکړ، پښتانه او نور خلک د دوی له شر څخه وژغورل.

دویم ځلې، د ط.لبانو د حکومت تر سقوط وروسته 52B امریکایي طیارو د فاریاب، بلخ، کندوز، تخار، بدخشان، بغلان، سمنګان، بادغیس او د هرات پښتتنو کورونو باندې د ط.لبانو سره د ژبې یوشان والي او همکارۍ په پلمه بمبارۍ وکړې او د شمال ائتلافي ځواکونو بیا د پښتنو کورونه، شتمني او د ښځو ناموسونه ولوټل.

د بي بي سي د راپور پر اساس، په ۲۰۰۲ م کال کې شاوخوا ۸۰ زره تنه د شمال پښتانه درحالیکې چې خپل ټوله شتمني یې له لاسه ورکړې وو، یوازې ځان او خپل اولادونه تر جلال آباد، هلمند او کندهار پورې ورسول، او په داخلي بې ځایه شوو کمپونو کې میشت شول، حتا تر نن ورځې پورې هم بېرته خپلو سیمو ته ستانه شوي ندي، ځکه کورونه او ځمکې یې د شمال ائتلافي قوماندانانو لخوا غصب شوي او د محلي زورمندانو په نوم قباله شوي دي، د کرزي او غني حکومت د قانون د تطبیق او د حق حقدار ته سپارلو توانایي نلري.

د کرزي د حکومت پر مهال ۸۰ پښتون کورنۍ چې د رباني د حکومت پر مهال له تخار څخه

مجبور شوي و، چې خپل کورونه او ځمکې پرېږدي او پاکستان ته لاړ شي، بېرته تخار ته لاړل، خو د جمعیت یو تن قوماندان هغوی ته اجازه ورنکړ، چې له خپلونو موټرونو څخه ښکته شي.

دغه قوماندان چې تاتار نومېده، محلي دوکاندارانو او نانوایانو ته امر کړی و، چې پر مهاجرینو به ډوډۍ او خوراکي توکې نه پلوري، ګنې دوکانونه به یې وسوزول شي. هماغه وخت د راستانه شوو مهاجرینو په حق کې د ترسره شوي ظلم خبر په ټولیزو رسنیو کې خپور شو، دوه – درې اوونۍ وروسته د پارلمان یو هیئت تخار ته لاړ، خو حکومت د مظلومانو غږ وانه اورېد، هغوی مجبور شول بېرته پاکستان ته لاړ شي.

لطیف پدرام د خپل ریاست جمهوري انتخاباتي کمپاین پر مهال د شمال ناقلینو ته ګواښ کړی و، چې پخپلو تذکرو کې د افغان او افغانستان د نوم له لیکلو څخه ډډه وکړي، ګنې قدرت ته د رسېدو په صورت کې د خراسان نوم به ځایناستی کړي، او هرڅوک چې افغاني تذکره ولري، له شمال څخه به وشړل شي.

**پدرام د بهرنیو هېوادونو په ملاتړ د افغانستان د تجزیې خوبونهویني، خو دی باید پوه شي چې اوسپنیز آمیر (امیرعبدالرحمن خان) دغه ټولنه داسې سره ترلې چې هیڅ ځواک نشي کولی دغه ساختار مات کړي، او افغانستان تجزیه کړي. پدرام او د پدرام لارویان به د افغانستان د تجزیې خوب ګور ته یوسي!**

2023/3/20



# د دولت منشاء په اړه د ارسطو نظریه

لیکوال: جوسیف زاري
ژباړه: عبدالودود بشریار

ارسطو خپل کتاب "سیاست" په دې څرګند واقعیت ویلو پیلوي چې دولت یو ډول ټولنه ده. (له دولت نه په ذهن کې د ارسطو مطلب د یونان ښاري-دولت دی). لکه د نورو ټولو ټولنو په څېر، دولت هم باید د یو هدف لپاره وي، او د دولت هدف د انسان لپاره "لوړترین خیر" دی، چې د ارسطو مطلب ورڅخه د ښېګڼې/فضیلت او فکر کولو ژوند دی. "څو، که د ټولو ټولنو هدف خیر وي، نو د دولتي یا سیاسي ټولنې چې تر ټولو لوړه ده، او پاتې نورې ټولنې هم په کې راځي، هدف تر نورو ټولنو په ډېره اندازه خیر او لوړترین خیر دی.



ارسطو د دې لپاره چې د دولت ماهیت پیدا کړي او چې څنګه له نورو ټولنو څخه توپیر لري، نو دولت په تشکیلوونکیو عناصرو ویشي او تاریخي منشاء یې څېړي. دی وایي دوه بنسټیزې غریزې شته چې د خلکو په یوځای کولو کې وسیلوي دنده لري. په دغو کې لومړۍ تولیدي غریزه ده چې د نارینوو او ښځینه و د یووالي سبب ګرځي، په عین حال کې دویمه د خپل ځان ساتنه ده، چې بادار او غلام اړباسي چې د دوه اړخیزو ګټو لپاره سره یوځای شي. له دې دواړو اړیکو څخه ... لومړی شیز چې رامینځته کیږي کورنۍ ده... کورنۍ هغه ټولنه ده چې د طبیعت لخوا د انسانانو د ورځنیو غوښتنو د پوره کولو لپاره رامینځته شوې ده.

نو، کورنۍ، د دولت په جوړښت کې لومړنی پړاو دی. دویم پړاو هغه وخت رارسیږي چې "یو څو کورنۍ یوځای شي او د تولیدو مطلب یې د داسې شیزونو پوره کول وي، چې تر ورځنیو اړتیاو ډېر وي."

نو په دې توګه کلي جوړېږي، چې په ډېر طبیعي ډول د یو کهول د خلکو اتحادیه – او یو ډول پلرنۍ ټولنه ده. "کله چې څو کلي په یوه کامله ټولنه کې متحد شي، او دومره لوی وي چې نژدې یا کافي په ځان بسیا وي نو دولت ترې رامنځته کیږي، چې د ژوند له ډېرو ساده اړتیاو څخه سرچینه اخلي او د ښه ژوند په تمه دوام مومي. او په همدې بنسټ، که د ټولنې لومړنۍ بڼې طبیعي وي نو دولت هم طبیعي دی، ځکه چې نتیجه یې ده، او د یو څیز ماهیت د هغه نتیجه وي. په همدې دلیل کله چې هر یو څیز په بشپړ ډول پراختیا ومومي، موږ یې د هغه ماهیت بولو، کیدای شي دا انسان، آس یا کورنۍ و اوسي.

دا دریم پړاو دی چې د دولت جوړښت پکې بشپړیږي. په دې توګه هغه څه چې دولت له نورو ټولنو څخه توپیروي دا واقعیت دی چې دولت په خپل ځان بسیا وي او انسانان د دې جوګه ګرځوي چې ښه ژوند وکړي. په داسې حال کې ده چې د بېلګې په توګه کورنۍ د خپلو غړو د ژوندي ساتلو لپاره په لږه اندازه وړتیا لري. مازې په کمیتي ډول نه، بلکې دولت له کورنۍ او کلي څخه په ډول کې توپیر لري.

د ارسطو لپاره، دولت یوه طبیعي ټولنه ده. هغه دا ښیي چې انسان څنګه د خپل لومړني طبیعت له مخې د کورنۍ، کلي او دولتي ټولنو جوړولو ته مجبوریږي. د انسان طبیعي هدف(فطري انجام) ښه ژوند دی چې یوازې په دولت کې موندل کیږي . نو له همدې امله دولت یوه طبیعي ټولنه ده. "انسان د طبیعت له مخې یو سیاسي ځناور/حیوان دی. نو هغه څوک چې د طبیعت له مخې نه مازې په تصادف سره له دولت څخه بې برخې وي، یا خراب انسان دی یا تر انسانیت پورته دی.

دا چې طبیعت انسان د ټولنیز ژوند لپاره ټاکلی( په پام کې نیولی) د انسان د غریدو له وړتیا څخه ثابتیږي، چې بل هیڅ حیوان دغه وړتیا نلري. نو طبیعت هیڅ چټې کار نکوي او له دې، دا خبره مالومیږي چې انسانان له یو بل سره د ټولیدو لپاره جوړ شوي دي.

د ارسطو د دولت طبیعي منشاء لیدلوري په وړاندې د یوناني وختونو د سوفیستانو نظر موجود دی، چې باور یې درلود دولت یوازې له دودیزې تړې (قرارداد) څخه راولاړ شوی دی. ښايي ارسطو د نورو تر منځ ، دا نظر په ذهن کې درلوده، چې کله یې د هغوی په مقابل کې خپله نظریه طرحه کوله. یو څه ورته لیدلوری د انګریز فیلسوف، جان لاک (1632-1704) او فرانسوي فیلسوف ژان ژاک روسو (1712-1778) لخوا هم څرګند شوی. هغه نظریه چې د دې خلکو لخوا ورته پرمختګ ورکړل شو د "ټولنیزې تړې/ټولنیز قرارداد" په نامه پیژندل کیږي. د دې نظریې له مخې، انسان په اصل کې د طبیعت په حالت کې ژوند کاوه، هر یو له بل سره برابر وو، په دې مفهوم چې هر څه یې د ژوند لپاره پکار ول، درلودل یې. (لاک او روسو د طبیعت د دې اصلي حالت په تفسیر کې یو څه توپیر لري، خو په ټوله کې، دواړه نظریات د اختلاف پر اصلي ټکو موافق دي).

له څه وخت وروسته د طبیعت دا بې سروسامانه ژوند د شتمنۍ د رامنځته کیدو او وروسته د خودخواهۍ د پراختیا له امله سرګردانه او له کړاو نه ډک شو. له یوه باصلاحیته سیاسي مشر پرته د شخړو او لانجو هوارولو لپاره بل هیڅوک موجود نه وو. د سولې او امنیت تامین لپاره، د دغسې یو باصلاحیته واک رامنځته کیدل اړین وګڼل شول، چې نظم وساتي او د هر وګړي طبیعي حقونه خوندي کړي. دا د ټولو خلکو لخوا د خپلې خوښې یوې ټولنیزې تړې له مخې ترسره شول. نو بیا د خلکو لخوا یوه حکومتي ډله غوره شوه، او دې ډلې ومنله چې د حکومت په "اداڼه" کې به یو شمېر عمومي شرایط مني. په هغه مهال کې چې واکمنان د اصلي تړون له شرایطو سرغړونه وکړي، دا د خلکو حق او دنده وه چې راپورته شي، له واک څخه یې وشړي، نوي واکمنان چې د تړې(قرارداد) شرایط مني، یې پر ځای واکمن کړي.

د دې نظریې له مخې، دولت یوه طبیعي ټولنه نه ده، بلکې پخپله د انسان کسبي جوړونه ده. په واقعیت کې، روسو پر دې باور وو چې انسان په طبیعت کې غیر ټولنیز دی، او دا بې له شکه ټولنه ده چې انسان فاسدوي او د هغه د طبیعي ښه والي د پراختیا مخه نیسي.

د ارسطو د لیدلوري ستروالی په اسانۍ لیدل کیدای شي. " د ارسطو له کورنۍ څخه د ټولنې د منشاء پراختیا څرګندونې اوس په عمومي ډول د ټولنپوهانو لخوا د یوازنیو څرګندونو په ډول منل شوي چې د پخوانیو قبیلو د تنظیم په اړه له وروستیو تحقیقاتو سره همغږي لري. ویل کیږي چې د پراختیا د رکود ټولې ځانګړنې، باید اوس په اجتماعي ټولنو کې په پام کې ونیول شي او ټولنې هغسې تنظیم شي چې په لومړي سر کې په کوم بنسټ رامنځته شوي وي.

لکه څنګه چې پوهاند راس یادونه کوي: "ارسطو په دې ټینګار سره سیاسي فکر ته ښه خدمت وکړ چې دولت یوازې د قرارداد له مخې شتون نلري، بلکې ریښه یې د انسان په طبیعت کې ده، »چې طبیعتوالی یې، په رښتیني مفهوم د انسان د ژوند په منشا کې نه بلکې په هغه هدف کې چې ژوند یې په طرف حرکت کوي، موندل کیږي. همداشان متمدن ژوند له فرضي وحشي ژوند څخه زوال ندی موندلی او همداشان دولت د ازادۍ مصنوعي محدودیت ندی، بلکې د ازادۍ د ترلاسه کولو وسیله ده.

**اخځلیکونه**


Copleston, Frederick, S.J. A History of Philosophy, vol. I, Maryland, The Newman Bookshop, 1946.
Gomperz, T. Greek Thinkers, vol. IV, London, John Murray.
Ross, W.D. Aristotle, London, Methuen, 1937.
Cronin, Michael. The Science of Ethics, vol. II, N.Y., Benziger Bros., 1922.

# د نجونو د زده کړو اهمیت او د اوسنیو ستونزو حل لارې




ډاکټر محمد ابراهیم شینواری

**الف. د اسلام له نظره د پوهې او زده کړې اهمیت:**

د قرآن کریم لومړنی آیت د اقراء په کلمه پیل شوی چې له ورایه ورڅخه د علم، لیک او لوست اهمیت څرګندیږي. دا پیغام ښځو او نرو ټولو ته دی.

په فرشتو د آدم علیه السلام د لوړوالي دلیل د ټولو شیانو په اسماوو (نومونو) د هغه پوهه وه او ځکه ملائکو ته امر وشو چې هغه علیه السلام ته سجده وکړي.

د پوهې ارزښت په اسلام کې په دومره روښانه او پیاوړو پیغامونو کې بیان شوی دی چې چا تر اوسه تر هغه ښه او غوره نه لیدلي او نه یې اوریدلي دي. په قرآن شریف کې تر ۸۰۰ ځلې زیات د علم او له پوهې سره مترادفو او ترلو کلمو ذکر راغلی دی. د نجونو یا هلکانو پر مخ د علم د بندیدو یادونه په هیڅ دیني متن کې نه ده راغلې. د آیتونو لاندیني مفاهیم د بېلګې په ډول ګورو:

1) آیا پوهان او نا پوهان سره برابر دي؟

2) پوهان بینا او نا پوهان ړانده دي.

3) له الله ډیر ویریدونکي بنده ګان، د الله عالم بنده ګان دي.

د نبي کریم (ص) د احادیثو مفاهیمو ته هم که پام وکړو، نو د نجونو د حقوقو او زده کړو په باب ډیر واضح دي:

1) پوهه د مؤمن ورکه ده او هر چیرته چې یې بیامومي د همده ده.

2) علم زده کړئ، که څه هم په چین کې وي.

3) علم زده کول پر نر او ښځه فرض دي.

د احادیثو له مخې باید د زوی په پیدا کیدو یوه خوښي، خو د لور په پیدا کیدو دوه خوښۍ وکړو او که په اولادونو کې فرق روا وای، نو رسول الله (صلی الله علیه و سلم) وایي چې پر ده به لور تر زوی ډېره ګرانه وه.

دا څرګنده ده چې د فرض ترک کول کبیره ګناه ده، ماشومان له فرضه عمله راګرځول یوه لویه ګناه ده. آیا څوک غواړي لور یې ړنده او زوی یې بینا وي؟ په اسلام کې ټول انسانان د مساوي کرامت خاوندان دي چې له آدم او حواء نه پیدا شوي او هیڅوک په هیڅ دلیل پر نورو لوړتیا او تفوق نه لري، یوازې تقوا د ښه والي دلیل ګڼل شوی دی. که د امتیاز لپاره دوهم عامل وي نو هغه پوهه ده، ځکه ړوند او بینا سره برابر نه دي.

**ب. په اسلامي او غیر اسلامي نړۍ کې عملي حالت:**

ټول ملتونه او دولتونه دې ارزښتونو ته متوجه شوی، او پر دغه لور یې ښه چټک عمل پیل کړی دی.

1) د اسلامي همکارۍ په ۵۷ ټولو غړو هېوادونو کې د نجونو او هلکانو زده کړو ته یو ډول اهمیت ورکول کیږي او شرایط

ورته برابريږي.

2) د بشر د حقوقو په نړيوواله اعلاميه او نورو ګڼو سندونو کې علم زده کول يو ستر بشري حق ګڼل شوی دی.

3) د ۱۹۹۵ کال د بيجنګ پلاټفورم پريکړه وکړه چې پوهه يو بشري حق دی چې موږ يوازې د هغې په مرسته د مساوات، پرمختيا، سولې او نيکمرغۍ لوړو هدفونو ته رسېدلای شو.

4) ملګرو ملتونو د زريزې زياتره هدفونو لاسته راوړل د نجونو په تعليم پورې تړلي دي.

5) تعليم د نجونو او کورنيو روښانه راتلونکې تضمينوي. د نړيوال بانک څېړنو ښودلې ده چې که يو پلار باسواده شي يو نسل ښيرازه کيږي؛ خو که مور باسواده شي، پنځه نسله يې نيکمرغه کيږي.

6) د پوهې او معلوماتو په زور د انسان ليدلوری پراخيږي او د نيکمرغۍ په مفهوم او لارو چارو ترهغو ډېر پوهيږي چې پوهه نه لري.

7) د ټولنيز ـ اقتصادي پرمختګ سبب ګرځي؛ پوهه د نوښت او ابتکار قوه پياوړې کوي او د حاصل کچه لوړوي چې په نتيجه کې له ټولنيز او اقتصادي پرمختګ سره مرسته کوي.

8) د زړه کړې حصول د هيوادونو له ثبات سره مرسته کوي. څېړنو په ډاګه کړې چې هغه هيوادونه ډېر باثباته دي چې د نجونو ښوونه په کې ډېره ده.

9) د يو ملت روغتيايي حالت، نيغ په نيغه د ميندو په تعليم پورې تړلې دی. په تعليم يافته ميندو کې د اولاد د زيږون په مهال، د مړينې کچه ډېره کمه وي. حتی د ډېرو مجهزو روغتيايي مرکزونو او زياتو روزل شوو روغتيايي کار کوونکو د برابرولو با وجود، ليدل کيږي په هغو سيمو کې د ميندو روغتيا زياته ارتقا کوي او د مرګ و مير کچه کميږي، چيرته چې نجونې او ميرمنې باسواده وي.

10) د ماشوم پر روغتيا او تربيه هم د پوهو ميندو اغيز همدغسې دی. ګڼ شمير څېړنو ښودلې ده چې په باسواده ښځو کې د ايدز په شمول ډېرې زياتې ناروغۍ تر بې سوادو ښځو په مراتبو کمې دي.

11) د نجونو پوهه او زده کړه د راتلونکو ميندو د تصميم نيولو وړتيا زياتوي او د نيکمرغه نسلونو د روزنې سبب کيږي.

12) د نجونو زده کړې، د ناسمو رواجونو د سمون تر ټولو ښه او اغيزمنه لاره ده. که جينکۍ د پوهې، کار، ګټې حاصلولو، تصميم نيولو او د لوړ ټولنيز دريځ خاوندانې شي، هيڅوک يې په بدو کې نه شي ورکولی او نه پرې نور ناسم او له شريعت سره په تضاد کې رواجونه منلی شي. همدا راز دوکه او غدر ورسره په اسانه نه شي کيدای.

13) څېړنو ښودلې ده چې اخلاقي نجابت هم په هغو نجونو کې زيات دی چې زده کړې يې کړې وي.

14) لنډه دا چې زده کړه او پوهه هر انسان (هلک او جنۍ) د برې او نيکمرغۍ تر ټولو لوړ ځلې ته رسوي.

### ت. د نجونو د زده کړو نورې ګټې:

1) د نجونو او ميرمنو په شمول د کورنۍ او ټولنې روغتيا او ښه والی

2) په ټولنيزه پرمختيا کې د نرو او ښځو معقول او متناسب ګډون

3) اقتصادي ښېرازي چې په نتيجه د زکات، صدقې او قربانۍ د وس په پيدا کولو د نيکو اعمالو او ثوابونو ګټلو زمينه برابريږي

4) د ماشومو نجونو د ودونو کمښت او په نتيجه د دوی سالمه وده او د راتلونکو روغو نسلونو تضمين

5) د ټولنې د سواد، علم او پوهې لوړوالی

6) د ژوند په مهارتونو د نجونو سمباليدل

7) په کورينو او ټولنه کې د نيستۍ او فقر کمښت

8) د سياسي او هيوادني ثبات تقويه

9) متداوم انکشاف (پرله پسې پرمختيا)

10) د نجونو زده کړه نه یوازې یو بشري حق دی، بلکې یو دیني مکلفیت او په راتلونکو نسلونو، ټولنو او انسانیت د مثبت اغیز تر ټولو مهمه لار ده.

## ث. ولې اوسنۍ اداره د نجونو د زده کړو مخالفه ده؟

دا چې اوسنۍ اداره د دغه بهیر د ځنډ او نه پیل رښتینی علت له ملت سره نه شریکوي، په واضح ډول په دې باب قضاوت گران دی چې ولې؟ خو فکر کېږي چې د پادشاه امان الله خان له وخته چې د ملا او مکتبي ترمنځ کوم فکري مخالفت پیل شوی وو، تر اوسه دوام لري. د سردار محمد داوود خان د صدارت پر مهال د نجونو او ښځو د نسبي آزادۍ په وړاندې په کندهار کې د ملایانو قیام یې بله بېلگه ده. د ملایانو د نویمو کلونو په واکمنۍ کې هم تر شپږم پورته ټولگي د نجونو پر مخ خلاص نه شول او اوسنۍ واکمني هم هماغه لار تعقیبوي.

د سترې محکمې رئیس په اوسنۍ اداره کې د فکري مسیر په ټاکلو کې یو تر ټولو مهم شخص دی. نوموړي یو کتاب لیکلی او په هغه کې یې تر یو معین برید وروسته د نجونو تعلیم ښه نه دی گڼلی. نو پوښتنه پیدا کېږي چې:

1) آیا د حاکمې ډلې د ټولو ملایانو دیني تعبیر د سترې محکمې د اوسني رییس د تعبیر په شان دی؟

که داسې و انگیرل شي چې د ځینو یا ټولو مشرانو نظر همداسې وي، نو په دې صورت کې ورسره مقابله مشکله ده. ځکه دا یوه فکري، سلوکي او د پالیسۍ مسئله ده او سلوک، فکر او پالیسي بدلول ډېر ستونزمن کار دی؛ زیات وخت، ډېرو هڅو او پراخې حوصلې ته اړتیا لري.

2) آیا حاکمه ډله په دې ډول له نړۍ څخه سیاسي امتیاز غواړي او یا د نړۍ له خوا پر دوی لگول شوو بندیزونو ته غبرگون ښايي؟

د نجونو د زده کړو، تحصیل او د ښځو د کار د بندولو سبب همدا وي، نو د دې بنسټیزې ستونزې حل کول هم عام ولس ته گران کار دی. له بلې خوا باید واکداران د خپلو خلکو د اساسي حقوقو پر سر له بل چا امتیار ونه غواړي. خو که دا دلیل رښتینی وي، سیاسیون، او نړیوال تعلیمي، مدني او د بشر د حقوقو بنسټونه او هیوادونه په دې باب مرسته کولای شي او داسې حل ته رسیدلای شي چې د مشروطو دوه اړخیزو امتیازونو په بدل کې سیاسي جوړ جاړی وشي. مدني بنسټونه او اشخاص د دې لپاره استازیتوب، دفاع، ملاتړ جلبول، خبرتیاوې خپرول، سازماندهي او پیغامونه شریکولای شي.

3) آیا د اقتصادي سرچینو او وسائلو د کمښت له امله د اوسنۍ اداري له نظره د نجونو زده کړې وروستۍ اولویت دی؟

که د نجونو د تعلیم د ځنډ سبب اقتصادي ستونزې وي، نو لومړی خو دې اوسنۍ اداره دا په ښکاره ووایي، دوهم دې له نړۍ مرسته وغواړي او په دریم قدم کې دې له ملت څخه د صبر او حوصلې غوښتنه وکړي. البته که منابع محدودې وي، بیا دې هم د هلکانو او نجونو ترمنځ مساوي وویشل شي.

4) آیا په رښتیا کلتوري ستونزې د نجونو د زده کړو مخه نیسي؟ او آیا دا د کلیوالو او ښاریانو ترمنځ فکري جگړه ده؟

کلتور کوم ثابت عنصر نه دی؛ او د نورو ټولنیزو پدیدو په څیر تل د وخت او زماني سره بدلون کوي. له بلې خوا د اسلام یوه ځانگړتیا دا هم ده چې ناوړه رواجونه اصلاح کوي. کله چې د یو انسان حق تلف کیږي، دا خو بیا لوی ثواب دی چې خنډ یې له مخې لیرې او ناوړه رواج اصلاح شي. په تېرو شلو کلونو کې د کونړ، پکتیکا او حتی د اوسنیو جنگیالیو تر کنټرول لاندې د هلمند نادعلي ولسوالۍ کې د نجونو ښوونځي فعال وو او هیچا دا کار د کلتور او فرهنگ خلاف نه گاڼه.

5) آیا د بلې حریفې ډلې (د ا ع ش) سره فکري او عملي مقابلې ته د ځان تیار ساتلو یو تکتیک دی؟

داسې ويل کيږي چې د اوسنۍ اداري ځينې جنګيالي د تمدن او ښاري توب نښې د غير اسلامي ښکارندو په توګه ګڼي او که اداره د نجونو ښوونځيو ته (چې شرعي مشکل نه لري) اجازه ورکړي، دغه ناخبره ځوان جنګيالي به هغې بلې ډلې ته ورشي. د دې دليل احتمال زيات نه دی، خو بايد وڅيړل شي.

6) آيا د کوم بهرني فشار يا پټ تفاهم له امله د نجونو تعليم بند شوی دی؟

دا هم يوه پوښتنه ده، خو د دې تر شا به منطق څه وي؟ ممکن ځينې هيوادونه نه غواړي چې د اوسنۍ اداري يو متمدن تصوير نړۍ ته وړاندې شي او يا هم ځينې غرضي کړۍ د دوست په جامه کې غواړي په دغه ډول کړنو د اسلام مبارک دين د ترقۍ او تمدن پر خلاف معرفي شي.

که دا يوه پټه ژمنه او د دوستۍ په جامه کې د غرضي کړيو دسيسه وي، نو حل کول به يې ډېر سخت وي. ځکه لومړی خو د دغه دليل ثابتول ستونزمن حتی ناممکن دي او دوهم سياسي ډلې د پټو وعدو په باب هيڅ اسناد نه شريکوي؛ نو د عامو خلکو له خوا مقابله به ورسره چندان آسانه نه وي.

**ج. وړانديزونه:**

1) که د حاکمې ډلې ديني تعبير همدا وي، ملت ته دې ووايي او بيا دې له نړيوالو اسلامي علماو سره مناظره او علمي بحث وکړي او نتيجې ته دې سره ورسيږي. ځکه اسلام يوازينی دين دی چې د هدايت لومړنۍ منبع (قرآن کريم په اصلي شکل موجود دی او له تحريف څخه ساتل شوی دی. که د اوسنۍ اداري ملايانو د پاتې ۵۶ هيوادونو ملايان مات نه کړل، نو بيا دې دوی د ستري محکمې د رئيس په کتاب کې ياد شوی تحليل او تعبير نه مني او د نجونو ښوونځي او پوهنځي دې پرانيزي.

2) حاکم نظام دې د نجونو د زده کړو مسئله د سياسي چنو وهلو له لست څخه وباسي او د نجونو د يو اساسي بشري حق په توګه دې ورسره برخورد وکړي.

3) که نظام اقتصادي او تخنيکي مرستو ته اړ وي، په څرګنده دې له هيواد والو سره شريک او له نړيوالو دې مرسته وغواړي.

4) په کلتوري ستونزو پورې د نجونو د زده کړو د تړلو پر ځای دې، د ولس د خبرولو او ملګري کولو هڅې وشي. قومي او ديني مشران به د زده کړو د اهميت په باب د ولس په اګاه کولو کې شريکه همکاري وکړي. همدا اوس هم د نجونو ښوونځي او پوهنځي جلا دي، نو هيڅ دليل نه پاتې کيږي چې د نجونو ښوونځي دې فعال نه شي.

5) د نړۍ د ديني علماوو مهم نظريات دې وکتل شي، قاطع اکثريت د نجونو د زده کړو کلکه پلوي کوي. په راتلونکې کې دې هم د پاليسيو په جوړولو کې د علماوو نظر واخيستل شي چې ولس ته يې منل اسان او زموږ د ملي او اسلامي ارزښتونو سره په سمون کې وي.

6) ديني شعائرو او کلتوري واقعيتونو ته د پام لپاره دې لاندې ټکي په نظر کې وساتي:

a. نجونو ته دې تر ټولو ښه او خوندي ښوونځي او ټولګي برابر شي.

b. د ليرې فاصلو ستونزه دې حل شي او ښوونځي دې کور او کلي ته ورووړل شي.

c. د نجونو د ښوونځيو محرميت، ستر او پرده دې په پام کې وساتل شي.

d. کلتوري ـ افغاني جامې دې درنې وګڼل شي او د نورو کلتورونو د تحميل مخه دې ونيول شي

e. تر وسه وسه دې ښځينه ښوونکې نجونو ته زده کړه ورکړي، که ښځينه ښوونکې نه پيدا کيږي؛ مسن، د پاخه عمر او متقي نارينه ښوونکي دې د نجونو په ښوونځيو کې وګمارل شي.

f. په لوړو ټولګيو کې دې د نجونو او هلکانو د جلا جلا

ښوونځيو سيستم دوام ولري.

g. د نجونو د زده کړو پروګرامونه دې متداوم او منظم وي.

h. د ښوونځيو د ټولو ټولګيو د تکميل او د لوړو زده کړو د دوام لپاره دې نجونو ته تشويقي پروګرامونه او مرستې هم په پام کې ونيول شي.

i. په نصابونو کې دې روغتيايي او تربيتي پيغامونه ډير او نوعيت يې هم بايد په پام کې ونيول شي.

j. د نجونو د ښونځيو امنيت ته دې ځانګړې پاملرنه وشي.

k. نړيوال دې هم د نجونو زده کړې له سياسي مسائلو سره نه تړي او صادقانه مرسته دې وکړي:

l. د ښځينه ښوونکو روزنې کې دې پاڼګونه او پروګراماتيکه مرسته وکړي.

m. د نجونو لپاره د ښوونځيو جوړولو ته دې بوديجه او مالي لګښتونه ورکړي.

n. د انلاين زده کړو او له لېرې زده کړو کې دې له مدني ټولنې او نادولتي مؤسسو سره هم لنډ مهاله مرسته وکړي، خو دغه بنسټيز حل نه دی. د اوږد مهاله حل لپاره دې له اوسنيو چارواکو سره جوړونکی تعامل وکړي چې اساسي حل راووځي.

**ح. د پخوانيو ناامنه سيمو ښوونځيو ته ځانګړې توجه**

په هغو سيمو کې چې پخوا د نا امنۍ له امله، له لومړي ټولګي د نجونو ښوونځي تړلي وو، لږ تر لږه ښوونځي او ټولګي دې ايجاد او فعال شي او له ښېږم صنف څخه د پورته زده کړو په برخه کې دې د ټول هېواد په شان ورته پاملرنه وشي.

**خ. له پخوا موجودې نورې لويې ستونزې:**

د نجونو د زده کړو پرمخ د ښوونځيو د تړلو په لويې ستونزې سربېره، د افغانستان د پوهنې نظام په مجموع کې ځينې ژورې ستونزې لري. موږ له ملت، اوسنۍ اداري او نړيوالو مرستندويانو غواړو چې په دغو برخو کې سره لاسونه ورکړي او د هوارې لارې چارې يې ولټوي.

1) د ښځينه ښوونکو کمښت
2) په لېرې پرتو سيمو کې د ښوونځيو
3) د تاسيس شوو ښوونځيو د ودانيو کمښت
4) په ښوونځيو کې د اوبو او حفظ الصحې د تاسيساتو کمښت يا نه شتون
5) د ښوونځيو د فاصلو زيات والی
6) د تدريس ټيټ کيفيت او د ښوونکو ټيټه علمي سويه
7) د خدماتو په ويش کې بې عدالتي
8) د درسي نصاب ستونزې او د درسي موادو کمښت يا نه شتون
9) په ځينو محدودو سيمو کې نجونو (په ځانګړې ډول تر اووم ټولګي پورته زده کوونکو ته) زياتره د اوږدې فاصلې له امله د کورنيو له خوا ښوونځيو ته د تګ اجازه نه ورکول.
10) د خلکو د خبرتيا، پوهاوي او معلوماتو شريکولو د پروګرامونو کمزوري.

**د. وروستنی پيغام**

هر افغان پلار او مور دې، همدا نن له خپل ځان او خپل خدای (ج) سره ژمنه وکړي چې د خپلو لونو د زده کړو حق د زامنو په شان غواړي. له دولت او نړيوالې ټولنې څخه خپلو مشروعو، سوله ايزو او مدني غوښتنو ته دوام ورکوي او د تعليمي خدمتونو د موجوديت او لاسرسي په صورت کې خپلې لونې په ښوونځيو کې داخلوي. ترڅو د يوې نيکمرغې راتلونکې اساس ورته برابر شي، د ښه ژوند او ژوند کولو هنر زده کړي او راتلونکې نسل د سيالانو سيال کړي.



# د وریښمو کاروان



## چلوونکې او مسئوله: شیبه ګهیځ

د وريښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او ليکوالانو له پیژاند نيولې تر طنزونو، لنډو کیسو، ادبي ټوټو، ادبي څیړنو او نور بیلابیل ادبي او غير سياسي ليکنې د هنري ذوق خړوبولو او معلومات ورکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختيا او غوړيدا په موخه مو د نېک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هيله يو.

dawatafghanmedia@gmail.com

## شریفه شریف له دعوت سره په مرکه کې

د زابل په کلات کې زېږېدلې شريفه شريف تر نهم ټولګي يې د روزګان او غزني په ښوونځيو کې زده‌کړې کړې او د ليسې دوره يې د کابل په زرغونې انا ليسې کې پای ته رسولې ده. نوموړې د ژبو او ادبياتو پوهنځي له پښتو څانګې فارغه ده، همداراز يې د ادبياتو ماسترې او د ښوونې او روزنې په برخه کې يې دوکتورا د امريکا له الوناى پوهنتون څخه ترلاسه کړې. اغلې شريف په راډيو افغانستان کې د وياندې په توګه دنده ترسره کړې، چې په د شومدم انګارزو خپرونه کې يې د شعرونو دکمله يې د يادونې وړ ده. د دې ترڅنګ په اوسنۍ آزادي راډيو کې د ښځو د خپرونو پروډيوسره او وياندہ وه او د کاناډا رنګا ايف.ايم کې يې هم کار کړی دی. شريفه شريف له ۱۹۹۱م کال راهيسې د کاناډا په تورنټو کې ژوند کوي، چې د ښوونې او روزنې په برخه کې د کاناډا په کالجونو او ځينې نورو کورسونو کې د انګريزۍ ژبې ښوونکې او مسووله ده. همداراز له څو کلونو راهيسې په سنګا کالج کې د ټولنيزو خدماتو موضوعات تدريسوي. په پښتو، دري/فارسي او انګريزي ژبو پوهېږي او دې برخه کې يې کتابونه چاپ شوي دي. شريفه له هر ډول جنسي، نژادي تبعيض او تعصب څخه په پاک، آزاده او برابره ټولنه باور لري او ځان د ښځو



د حقونو مدافع ګڼي. هغه له موسيقي، سفرونو، کيسو، کتابونو، فلمونو او طبيعت سره مينه لري.

اثار يې دا دي:

۱: کرکۍ (د لنډو کيسو ټولګه)

۲: (در پرتګاه زندګی) يې خاطرات دي، چې په دري ژبه دي او په ۲۰۱۱م کال په کاناډا کې په انګريزي ژبه هم چاپ شوي دي.

۳: (چا و چا ویل) يې هم د لنډو کيسو ټولګه ده، چې تازه چاپ شوې.

۴: (سنګساران ګناهکار) په دري ژبه لنډې کيسې دي.

۵: په افغانستان کې د ماشومانو د ودونو په اړه یې یوه څېړنیزه مقاله کښلې، چې د ماشومانو په کتاب کې په ۲۰۱۴م کال کې د امریکا په تیکزاس پوهنتون کې چاپ شوې.

**شبېه: مخکې تر دې چې له شریفې جانې څخه د هنر په باب پوښتنې ولرو اول به دا واورو، چې د کډوالۍ ژوند څنګه تېرېږي؟**

**شریفه شریف**: زما نیمایي عمر نه زیات په کډوالۍ کې تېر شوی. ژوند او شرایط یې ځان ته ښېګنې او ستونزې لري. ښکاره ده چې د خپل وطن خوند او د خپل کور احساس به په کډوالۍ کې نه وي؛ خو موږ ښځې په خپل وطن کې هم مهاجرې یوو. یعنې د کور نه بهر فرعي او نا بللې شمېرل کېږو. دا چې خپلواکه یمه؛ وخت او مکان راته نه ټاکل کېږي؛ د کور او بهر پولې راته محدود نه دي؛ ښېګنه یې ګڼم. خو په ټوله کې مهاجر یوو او زه په هر حال د کډوالۍ ژوند سره روږدې شوې یم.



**شبېه: شکر چې وخت مو ښه تېرېږي او د کډوالۍ ژوند سره روږدې شوې هم یئ اوسمهال څه بوختیاوې لرئ؟**

**شریفه شریف**: ټول عمر مې کار کړی او نړۍواله تجربه لرم. معمولاً د ژورنالیزم او ښوونې په څانګو کې مې بوختیاوې درلودلې. په امریکې، هند، د چک جمهوریت، کاناډا او خپل ګران هېواد افغانستان کې مې دندې لرلې. دلته د کاناډا په تورنتو کې په کالجونو او د انګریزي ژبې په کورسونو کې مې درس ورکړی.

**شبېه: مخکې مو وویل چې د ژورنالیزم څانګې کې مو هم کار کړی؛ نو د ویاندویۍ له جالبو خاطرو راته وغږېږئ؟**

**شریفه شریف**: د ژورنالیستي کارونو ښې تجربې مې په آزادي راډیو کې د اونیزوو خپرونو چلول او د خلکو خبرې دي. یوه خپرونه مو د محلي اتلانو نه په هلمند کې یوه کونډه وه، چې په خپلو پیسو یې یو پل جوړ کړی و. موږ بیا دې اتلانو ته جایزې ورکړې. د جایزو د سپارلو غونډه په کابل کې وه او زه یې چلوونکې وم. لومړۍ جایزه د ځو ځوانانو وه، چې معتادینو سره یې مرسته کړې وه. د ژوند خبرې یوه بله اونیزه خپرونه وه، چې ما په رڼا راډیو کې چلوله. هغه په کندهار کې د ښځو ستونزو او بریاوو په اړه وه؛ ښځو به ټیلفونونه کول او خپلې کیسې یې شریکولې.

**شبېه: په غربت کې لیکوالي، یا داسې وواېو چې آیا کډوالي هم پر لیکوالي او کیسه لیکنې اغېزه لرلی شي. تاسو په کیسو کې د غربت اغېزه شته؟**

**شریفه شریف**: کیسه یا شعر لیکل د لیکوال د ذهن او تخیل پنځونه ده. تخیل او ذهن د سترګو لید نه اغېزمن دي. هغه څه چې په چاپېریال کې تېرېږي خامخا د لیکوال او هنرمند ذهن اغېزمنوي؛ خو ذهن او خاطرې له انسان سره پاتېږي. چاپېریال نورې خبرې ذهن کې زیاتوي، پخوانۍ یا لومړنۍ خبرې نه پاکوي. ډېر بهر میشتي لیکوالان او شاعران د کیسې کرکټرونه، پېښې، انځورونه او استعارې وطني دي؛ د وطن په چاپېریال کې انځورېږي.

زما په ذهن کې د طبیعت انځور هماغه د روزګان غرونه، د کونړ سیند او شمالي باغونه دی. کرېکټرونه مې اکثراً افغاني نجونې او ښځې دي. که د ځان له لید لوري یې ولیکم؛ بیا خامخا له اوسني چاپېریال به اغېزمنه یمه.

**شبېه: شریفې جانې موږ د ډېرو کیسه لیکوالو په کیسو کې ګورو چې د جنګ ځپلې چاپېریال لیکنې تر ارامه چاپېریال کې**

**د اوسیدلي لیکوالانو لیکنې توپیر لري؛ نو زما پوښتنه دا ده چې چاپیریال څومره په کیسه لیکنه کې اغېزه لري؟**

**شریفه شریف**: جنګ یا هغه پېښې او شرایط چې د خلکو ژوند اغېزمنوي؛ د هماغه ځای کیسه ګرځي؛ یعني د ژوند لویه برخه کېږي. لیکوال چې په کوم چاپیریال کې ژوند کوي خامخا د کیسې کرکتر، ونه او پېښې یې د جنګ رنګ اخلي.

**شبېه: د لنډې کیسې لیکنې تخنیکونو په هکله ووایئ؛ یوه کیسه څنګه پیل کړو او یوې کیسې ته څنګه موضوع وټاکوو؟**

**شریفه شریف**: د لنډې کیسې د تخنیکونو په اړه معمولاً څو توکونه یادېږي؛ کرکتر، پلاټ ، پېښې او د دوی تر منځ د یووالي ساتل. د کیسې ژبه، انځورونه او ډیالوګونه ټول باید یوله بل سره تجانس ولري؛ پېښې تصادفي او ډراماتیک نه وي او کرکټر د کیسې د چاپیریال او زمان نه زېږنده عادی انسان وي. د کیسې موضوع باید یو کرکتر، یوه پېښه یا یو احساس وي، چې د لیکوال/ لیکوالې فکر او تخیل وبګنوي؛ یعنې په فکر او زړه کې یې خاطرې او خبرې ژوندۍ کړي. دا خبرې د مقالې یا راپور لیکنو خبرې نه دي؛ یعنې د خلکو د پوهاوي او تبلیغ خبرې دې باید نه وي؛ بلکې د یو هنرمند له سترګو د ژوند د یوې شیبې، د یو کرکټر د یو حالت یا د یوې پېښې د چاپیریال پنځونه ده.

**شبېه: ستاسو د ډېرو کیسو پای له نورو پښتو کیسو توپیر لري؛ یعني د پای برخه لوستونکي ته پرېښودل شوې دا د کیسه لیکنې تخنیک دی که تاسو خپله دا کار کوئ؟**

**شریفه شریف**: زما د کیسې پای د پېښو او حالاتو تور او سپین پرېکړه نه ده؛ کټ مټ همداسې چې ژوند له یوه مخه د ښه او بد پایله نه ده. زما موخه په هره لیکنه کې د لوستونکي په ذهن کې د ژوند او انسان په اړه د پوښتنو او څېړنو د تلوسې پیدا کول دي.

**شبېه: شریفي جانې! مخکې له دې چې تاسو په اثارو وغږیږو، لومړی به تاسو په ادبي فعالیتونو وغږیږو او پیل به هم له دې وکړو چې د جنید شریف د جایزې په هکله معلومات راکړئ؟**

**شریفه شریف**: د «جنید» جایزه هر کال درې ښځینه او درې نارینه ځوانو شاعرانو ته ورکول کېږي. شاعران/ې خپل درې شعرونه د خورې شعرونو وېبپاڼې ته لېږي؛ پنځه ډېر تکړه او وتلي داوران شعرونه لولي او په ګډه لومړی او دوه نور ګټونکي ټاکي. د ګډون شرایط په افغانستان کې زېږېدلی وي او له شپاړلسو نه تر څلویښتو کلنو عمر لرونکي شاعران/ې وي. جایزه نقدي ده، لومړی ۵۰۰سوه، دویم او درېیم ۳۰۰سوه امریکایي ډالر یې جایزه ده.



**شبېه: د اکرم عثمان ادبي جشنواري په هکله راته ووایئ؛ تاسو په دې جشنواري کې داوره وئ، دا جایزه د ادبیاتو په کومه برخه کې ورکول کېږي او معیارونه یې څه دي؟**

**شریفه شریف**: د اکرم عثمان جایزه د لنډو کیسو جایزه ده، چې هر کال په سویډن کې په یوه ادبي غونډې کې اعلانېږي. درې( لومړی، دویمه او درېیمه) جایزه پښتو کیسو او درې یې دري کیسو ته ځانګړې کېږي. د جایزې معیارونه هماغه د کیسې نثر، د لنډې کیسې د ادبي ارونو مراعتول، نوښت، د کیسې پلاټ او موضوع ده.

**شبنه: نړۍ مننه چې د یادو جشنوارو په هکله مو موږ ته معلومات راکړل، هیله ده زموږ ځوان لیکوالان/ې او شاعران/ې دې ګډون وکړي. د کړکۍ لنډو کیسو ټولګې په هکله راته ووایئ؛ موضوعات یې څه دي؟**

**شریفه شریف**: د کړکۍ د ټولګې کیسې کابو ټولو کیسو کرکټر او راویان ښځې دي، د ښځو له لیدلوري او د ښځو د ژوند په هکله لیکل شوي کیسې دي. دا چې ولې زه د ښځو کیسې لیکم، که رښتیا ووایم زه یې په لوی لاس نه کوم؛ بلکې رانه کېږي. یعنې د ښځو د ژوند په کونجونو او ګوښو کې د پټو رازونو په لټه کې نه یم؛ خو هغه څه چې زما سترګو ته راغلي ټول یا ډیر یې د ښځو له ژوند سره تړاو لري.

**شبنه: (در پرتگاه زنده گي) مو د فارسي ژبې اثر دی؛ د دې کتاب موضوع څه ده؟**

**شریفه شریف**: دا زما د ژوند خاطرات دي، چې په انګریزي ژبه کاناډا کې چاپ شوی. په دې کتاب کې ما د هغو ښځو خاطرې هم لیکلي، چې ما د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې یا لیدلي یا مې یې کیسې اورېدلي دي. دا کتاب کال ته له خیره دویم ځل چاپېږي.

**شبنه: (سنگ ساران گنهکار) مو په فارسي ژبه کیسې دي؛ سنګسار زموږ په ټولنې کې بد عمل دی؛ نو کتاب ته مو ولې دا نوم غوره کړی ځانګړی لامل یې درلود؟**

**شریفه شریف**: دا ټولګه مې دېرش کاله پخوا په کاناډا کې چاپ کړه. دې کې هم ټولې د هغو ښځو کیسې دي، چې یو ډول نه یو ډول د زور زیاتي سره مخامخې شوي. ما د یوې ښځې د سنګسار کیسه اورېدلې وه او هماغه زما په ذهن کې پاتې وه. د ټولګې د یوې کیسې نوم د عنوان په توګه ټاکل معمول دی؛ خو عنوان باید د ټولو کیسو پیغام ورسوي. یو لامل دا و، بل دا چې اصلي ګناهکاران هغه دي چې یوه ښځه سنګساروي؛ نه هغه ښځه چې په یو تش تور یا د مینې کولو په جرم سنګسارېږي.

**شبنه: (چا و چا ویل) دا کتاب مو نوی چاپ شوی؛ څومره لنډې کیسې په کې ځای شوې، موضوعات یې څه او هم دا چې ددې نوم غوره کول تر شا څه لامل و؟**

**شریفه شریف**: کتاب مې کابو شل کیسې، یوه مقاله او سریزه لري. د لنډو کیسو موضوعات یې هغه شېبې، صحنې، پېښې، کرکټرونه او حالتونه دي، چې ما ته یې د ژوند او انسان رواني او فزیکي احساس په اړه څه ویلي. کرکټرونه یې ښځې او لیدلوری هم ښځینه دی. کیسه موږ معمولاً د یو چا له خولې اوروو. د کیسې ویلو دود هم "وو نه وو" یا "ویل کېږي" دی. یو دلیل یې همـاغه د کیسې ویلو د پیل دود دی، دویم دلیل یې دا چې هم یوه محلي سندره ده او هم زما خوښېږي.

**شبنه: له وخت راکولو او له تاسو مننه ګرانې شریفه جانې. په پای که ځوان لیکوالان/ې ته څه پیغام لرئ.**

**شریفه شریف**: ځوانو لیکوالانو نه مې هیله دا ده، چې د ژوند او نړۍ له چارو ځانونه باخبره وساتي. د اوسني ټکنالوژي سره دې بلد/ې شي. که امکانات ولري علمي څېړنې دې ولولي او تر ټولو مهمه دا چې د ژوند او ټولنې د هرې پدیدې، فکر او اړیکې په اړه دې خپل ذهن کې پوښتنې جوړې او ځوابونه دې ورته ولټوي. د تور او سپین رنګونو شاه و خوا سیورې دې هم وڅېړي.



# چيغې

شريفه شريف

نن يې ځلوېښتي وه. د مامور زمان خان د لور، ښاپېرۍ. مامور ښه لوی ختم او خيرات ورته کړی و. د نارينه و خيرات يې د ګاونډي په کور کې و او ښځينه يې خپل کور کې. لودسپيکرونه يې کرا کړي وو او د سهار وخته راهيسې د قاريانو تلاوتونه په ټوله کوڅه کې خپرېدل. اوس يو نيم ډېر نږدې له خپلوان زمان خان سره کور ته راغلي نور رخصت شول. ښځينه هم له نارينه و نه مخکې ووتلې چې د نارينه و نه وړاندې کورو ته ورسېږي.

د زمان خان د انګړ نه د پخلي او لويو ديګيو بند و بست اشپزانو ټول کړي. خو د خښتو دېګدانونه چې لويو خيراتونو ته يې اشپزان جوړوي. د انګړ په منځ کې لا هماغسې شته او په منځ کې يې کوټ کوټ ايرې پرتې دي. لکه يواځې او تنها انسان چې ملګرې ترې تللي وي، حيران او پريشان ښکارېدل. تا به ويل ايرې درته غږ کوي، در په يادوي چې ګرې مخکې دلته ديګونه بار وو، خلک وو، خواږه وو.

خو د مرګ خاموشه زمزمه د انګړ د هر کونج او کناري نه اورېدل کېږي. چوپه چوپتيا ده خو د دېوال يا کور د نړېدو وروسته چوپتيا غوندې چې په غوږونو کې د ناځاپي لوېدو انګازه يې تر ډېره پاتې شي.

دننه په کور کې د ښاپېرۍ مور پر جاى نماز ناسته ده او ځان کله مخ او شاته او کله له ښي نه کيڼې خواته ښوروي. لاسونه يې د دعا په خاطر پورته کړي خو څه نه وايي. زوی يې چې له کابله راغلی، لا د ګاونډي – جميلې دوی کره چې د نارينه و ختم هلته و خو ملګرو سره ناست دی.

پلوشه – د ښاپېرۍ کشره خور- چې د ښاپېرۍ له مړينې وروسته يې ټول کتابونه په يوه صندوق کې اچولي وو، اوس بيا يو يو په الماری کې ږدي. هر يو کتاب چې راواخلي، پاڼې يې واړوي او هر يوه سره يې د ښاپېرۍ خاطره، يوه خبره يا يو کار يادېږي. ښاپېرۍ تر دې ځلور کاله مشره وه. دواړه چې ښوونځي ته تللې ډېرې سره نږدې وې. ټولې د زړه خبرې يې يوې بلې ته کولې. خو ښاپېرۍ چې اتم ټولګی خلاص کړ او بيا پلار پرېنښوده چې لېسې ته شامله شي- چې لره لرې وه- د ښاپېرۍ طبيعت واوښت. ورو ورو نو بيا هغه ښاپيرۍ نه وه.

اوله کې يې هره ورځ مور ته زارۍ کولې چې پلار ته ووايي لېسې ته يې پرېږدي. يوه دوې ورځې مروره شوه، هيڅ يې نه خوړل، نه يې څه ويل، بس ژړل يې. خو چې پلار ورته غوسه شو او مور هم ورټله، بيا نو ښاپېرۍ واوښته. کمې خبرې يې کولې. پلوشې سره يې هم دومره د زړه خواله نه کول. ورو ورو ښاپېرۍ بيخي غلې شوه. ګنګۍ شوه. خبرې يې اورېدې خو همداسې به يې درته کتل او څه يې نه ويل. پلار يې د مور د ډېرو زاريو په خاطر يو واري ډاکټر ته بوتله، بيا يې ورته پام نه و، ويل يې ډاکټر وايي کومه خاصه ناروغي نه لري. خوشاله يې وساتئ. د ډاکټر له دې خبرې وروسته يې پلار ويل، نجلۍ ده. هسې مکر او نخرې کوي. ښه به شي.

خو مور يې نه منله. هرې خواته به يې لاس اچول چې ګونډې لور يې ښه شي. هر چا چې به هرڅه ويل، منل به يې او دوا درمل به يې د تاويزونو يا د نذرونو او خيراتونو سره کول.

چا ويل، پېريانو نيولې ده. تاويز ورته وکه. چا ويل تاسو خيراتونه نه دي کړي، دا کفاره ده. چا ويل جاودو پرې شوې ده. چا ويل ښاپېرۍ ټوله ورځ کتابونه لوستل، لمونځونه ترې قضا کېدل. ګنا يې غاړه نيولې. او چا به ويل ښوونځي کې به چا څه ورکړي وي. د جميلې مور خو ويل چې د ملنګ بابا د زيارت غوسه ده. ښاپېرۍ چې زيارت ته ځي بې پروايي کوي.

خو نه خيراتونو، نه تاويزونو او نه د ملنګ بابا د زيارت نذرونو، هيڅ يوه هم ښاپېرۍ په خبرو رانه وسته. ورځ تر بلې لا بدتره شوه او ښه نه.

ورو ورو يې خوب و خوراک هم کم شو. د شپې هر واري چې پلوشه ویښه شوه، ښاپېرۍ به پر ځای ناسته وه. د ورځې به له ځانه سره بونګیدله. کله ژړلې، کله خندلې. په وروستیو کې د کوټې نه ډېره نه وتله. د مور و پلوشې نه پرته يې له نورو نه ځان پټاوه. اخره کې هم دوې ورځې شپې همداسې د کور په کونج کې ناسته وه. سترګې يې هرې خوا ته اړولې. نه يې د شپې یوه شېبه سترګه پټه شوه، او نه يې د ورځې یوه مړۍ تر ستوني تېره کړه. شونډې يې یوې خوا ته کړې وې. تا ویل مسکېږي. په دریمه ورځ همالته چې ناسته وه، پرېوتله او سترګې يې پټې شوې.

پلوشه کتابونه ټولوي او د ښاپېرۍ د ژوند ورځې يې تر سترګو کېږي. غوسه، غم، پښیماني، ملامتي، مینه، یوازیتوب د هر کتاب د پاڼو نه چې پلوشه يې اړوي چغې کوي او د پلوشې ستوني کې غوټه کېږي.



(( ولې يې دوې ورځې یوه مړۍ له ستوني تېره نه کړه؟ ولې يې زړه دومره کلک کړی و چې د مور دومره زارۍ يې وانه وربدې؟

کشکې مې ورته د ښوونځې او ټولګیوالو، د زرلښتې او ورور يې کیسې ډېرې کولې. د زرلښتې د ورور د واده کیسه مې چې کوله، څومره يې سترګې ګردې شوې وې.

(( د جیولوجي د کتاب درسونه يې په خوند اوربدل. کاشکې مې ورته عکسونه ښودلی. کاشکې مې ورته کتلی. کاشکې مې ورته ویلي وی چې که خبرې وکړې یا نه، زه ورسره خبرې او کیسې لرم. زه يې خبرې اورم. ما اوربدله چې غوسه به وه.

ما يې د چوپې خولې نه چیغې اوربدلې چې غوښتل يې ما سره یو ځای مکتب ته لاړه شي. په لاره کې د ښوونکو، ټولګیوالو کیسې وکړو. د ازمینو، د ښو نمرو، د خرابو نمرو.

پلوشې د جیولوجي کتاب پاڼې واړولې. د پاکټ غونډې قحط شوي سپینې پاڼې له کتابه ولوېدې. پلوشې د ښاپېرۍ د لاس خط پېژانده. د ښاپېرۍ خط او خبرې وې.

***

هاغه ورځ د لیوني بابا په زیارت کې ډېره ګڼه ګوڼه وه. ما ویل نجونې او ښځې به زیارت ته ډېرې ورځي، خو دومره سړي او ځوانان راغلي وو چې د ونو لاندې کښېناستو ته ځای نه و. زما بیا دې زیارت ته تګ د زیارت مخې ته د ونو لاندې یوه ګړۍ دمه کول او د خلکو سیل خوند راکوي. په میاشت کې یو دوه واري له خویندو او د ګاونډیو جینکو سره ورځم، د نورو تلوسه وي چې زیارت ته دننه ورشي او نوی بند وتړي یا یوه غوټه خلاصه کړي، خو زما بیا تلوار وي چې د زیارت نه ووځو او میله وکو. دا زیارت چې نه پوهېږم ولې يې خلک لېونی بابا بولي، زموږ له کوره دومره لرې نه دی. د ښار په څنډ کې پر یوې تپې باندې پروت دی. څلور خواوې يې ونې دي. د چنارو، یو نیم ناجو، بید، توتانو او سنځلو ونې. د زیارت ودانۍ د تپې په سر د ونو په منځ کې ده چې د سړک نه نه ښکاري. د سړک نه یو خامه لار د زیارت په لور شته چې دوه موټره په سختۍ پکې ځايېږي. که له دوو تګ او راتګ خواوو نه موټرونه سره برابر شول، یو يې درېدو او د سړک څنډې ته ګوښه کېږي. ځوانان پیاده د سړک په منځ کې روان وي. موټروانان چې سورلې يې اکثره ښځینه وي، یا زاړه یا د دولت مامورین چې ملګرو یا کورنۍ سره زیارت ته ځي، په دې لاره کې لاس د هارن نه نه لرې کوي.

د زیارت ودانۍ د خښتو یو ګنبد دی چې پخوا خړ پر وو خو دا څو کاله کېږي نه یم خبره چې دولت یا خلکو ترمیم او شین رنګ کړی. هر چا چې کړی کور يې ودان، پخوا به چې تلو، تا به ویل

وار د واره قبر ته ښکته کېږو. اوس سمه دروازه لري او منجاور ورته د لرګو په چوکۍ کې ناست دی. که پام لږ غلط کړم، سمه ودانۍ او تاریخي ځای راته ښکاري. باور مې نه‌شي چې دا ځوانان چې ډله ډله راځي او بیا د ونو لاندې مېلې کوي، یواځې د زیارت په نیت راځي. زه وایم زما په شان به ډېر د زیارت په نامه له کوره وځي.

زما خو د ژوند ټوله کیسه هماغه ورځ همدې زیارت کې پیل شوه. په هغه ورځ پس له غرمې هوا ډېره ښه وه. د شپې باران ورېدلی و او ونې یې پاکې کړې وې. وربځې د لمر مخې ته ډله ډله تاوېدلې. کله به یې د لمر مخ پټ کړ او کله به شا ته شوې. د پسرلي وربځې هم لکه نور طبیعت ـ ونې، بوټي او اوبه مستې وې. لکه د مین زړه چې د مینې په لومړیو کې ټوپونه وهي.

هغه ورځ موږ څلور کسه وو. کشره خور مې پلوشه، جمیله زموږ د دکاندار ګاونډي لور او د ترور لور یې حمیده چې له کلي نه راغلې وه او زه. خور مې لا وړه ده. مراد ته د رسېدو په خاطر نه راځي، مور یې راسره ملګرې کوي چې زه یوازې و نه اوسم. یا به کوم مراد لري، خدای خبر. نن سبا ماشومان هم په مینه پوهیږي اوسل ډوله ارمانونه لري. جمیله تر ما مشره ده. خپله څه نه وایي خو مور یې تل د مېړه او رویبارانو خبرې کوي. یو ورځ چې پلار یې په کور کې مور باندې غوسه شوی واو جمیله یې هم په ناحقه رټلې وه، راته ویل یې چې که یو لوستی او د ښې کورنۍ ریبار ورته راشي، زر به واده وکړي. په هماغه ورځ مې ولیده چې سره تارونه یې د قبر د کتارې په څنډ وتړل. حمیده خواره خو په همدې نیت راغلې وه چې ورینداز کره یې د دوو لونو وروسته زوی پیدا شي.

زما ارمانونه ډېر وو خو د یوه د پوره کېدو هیله مې هم نه درلوده. زه پروسږکال چې  اتم ټولګي نه فارغېدم، د حمیدې غونډې مې تارونه وتړل چې پلار لیسې ته د تګ اجازه راکړي. هیڅ هم ونه‌شو، نه د دې زیارت، نه زما د ژړا ګانو او نه د مور زاریو زور په پلار ورسېد. همدا نه یې چې وکړه، نه پاتې شوه. چې د ښوونځي نه پاتې شوم، نور ارمانونه هم پسې میرات شول. مشر ورور مې چې کابل کې دی، حکومتي کار کوي، د تېر اختر په

ورځو کې چې راغئ، ماته یې څو کتابونه راوړل. ویل یې کور کې زده‌کړه وکړم. کور کې نو کله کېږي. مور جانه مې ده او امرونه یې: هله دا وکه. هغه وکه. همدا چې کتاب مې په لاس کې وګوري، یو ناحقه کار پسې مې ولېږي. خپله هم ستړې یم. زړه مې تنګ دی.

هاغه ورځ چې جمیلې د زیارت نیت وکړ، زما هم زړه تنګ و په خوشالۍ ورسره روانه شوم. پلوشه هم په کور کې وه. ښوونځي ته نه وه تللې. ویل یې په سر یې درد دی. رېښتیا په سر یې درد و که نه، خو په کور وه. حمیدې غوښتل چې د زیارت نه چې ووتلو، په نیغه کور خواته روان شو. ویل یې ښه نه دی چې د زیارت په نیت راغلې یو او مجلس وکړو. ډارېدله هم چې لمر نه لوېږي او ماښام شي. موږ په زوره ورباندې ومنله. لاړو د ویالې څنګ د توتانو ونو لاندې کښیناستو. پلوشه مو واستوله چې د تبنګي والا نه لږ کلچې ملچې راواخلي.

ګورو چې پلوشه په دواړو لاسونو کې پاکټونو سره راروانه وه. یو ځوان هلک هم ورسره رهي و. نه جګ و نه ټیټ. برابر، شین بخنه سپین کمیس پرتوګ او یو تور واسکټ یې اغوستي وو. نیوهېږم چاته شوی و، خو ډېر راته اشنا ښکارېده. ښایي هېچاته هم نه وی شوی. اشنا څېره یې درلوده. نه بیخي بل رقم هلک و. نورو ته هیڅ ورته نه و. یکه او بېل، خپله دی و.

حمیدې وویل:

«هلک څوک دی؟ پلوشې سره څنګه څنګ په څنګ رهي دی؟ یو لوی پاکټ یې په لاس کې دی.»

ما شاته وکتل چې ګونډې نور څوک هم زما تر شا ناست دي او دی هغې خواته روان دی. هېڅوک نه و.

کلچې، کېک، شور نخود مو هم واخیستل.

پلوشې دا وویل او هلک ته یې وکتل.

- مننه.

هلک پاکټ زموږ مخې ته په مځکه کېښود او دواړه لاسونه یې سر وموښل. زما خواته یې وکتل او سلام یې واچوه.

جمیلې وعلیک سلام وویل. هلک پلوشې ته وکتل او سر یې ورو د خدای پامانی په مانا وخوځاوه.

حمیدې غږ کړ:

«-الا! څومره ښه ځوان و؟»

جمیلې ورغبرګه کړه:

«- یو نیم باتربیه ځوان هم پیدا کېږي.»

غوښتل مې چې وwایم: باتربیه او ښایسته. خو نیوهېږم ولې مې له خولې نه راوتل.

پلوشې وویل:

«ـ زما د ټولګیوالې ورور دی.»

هلک بیا یو وارې شاته وکتل او د ونو لاندې پټ شو.

د حمیدې غږ مې بېرته دوی ته پام راواړاوه:

«ـ ښنګه غلې شوې ښاپیرۍ؟»

د پلوشې خواته مې لاس اوږد کړ:

«ـ راکه دا شور نخود چې ښنګه دي؟»

جمیلې وویل:

«ـ کلچې خو یې سپېرې دي.»

حمیدې پلوشې ته مخ کړ:

«ـ نوم یې څه شی دی؟»

- د چا نوم؟ پلوشې داسې به زوره وویل چې ما ویل ټولو خلکو واورېدل.
- ستا د ټولګیوال د ورور نوم.
- ته به ګناهکاره شې. کوژده یې وا جلۍ!

پلوشې لاس داسې تاو کړ چې څو وارې یې دا پوښتنه اورېدلې وي. همداسې چې یې کلچو ته کتل په زوره یې وویل:

- زه څه خبره یم؟
- لکه چې خوښ دې شو که ښنګه؟
- خیر دی پوښتنه خو ګناه نلري.

حمیده د ماشومتوب نه د ماما د زوی په نامه وه. اوس چې دواړه زلمیان شوي وو، هلک کابل کې پوهنتون کې زده کړې کولې. مور یې ویل و زده کړو وروسته به واده ورته وکړي. ویل یې درسونه یې ډېر دي، بوخت دی. دې خپله څه نه ویل. خدازده چې څه کیسه وه. خو ویل یې چې کوژده ده.

- شورنخود ترخه دي.

پلوشې خپلې شونډې ژبې سره څټلې او شورنخود یې خوړل. زما پام د حمیدې پوښتنې ته و او زړه مې غوښتل چې بیا یې وپوښتني.

(( د ټولګیوال د ورور نوم څه شی دی؟))

خو خبرې بلې خوا ته لاړې.

له هغې ورځې څو واره مې خبرې واړولې راواړولې چې ګوندې پلوشه د تولګیوال د ورور په باره کې څه ووایي، څه یې ونه ویل.

زړلښته نومیږي. زما ملګرې نه ده. مازې سلام علیک لرو.

بس نو پلوشې همدومره وویل.

یو وارې بیا مې پلار ته ودریدم چې اجازه راکړي مکتب خلاص کړم. هغه ورځ مې د کور ټول کارونه خلاص کړل، کور مې پاک کړ، کالي مې ومینځل، د بیګا دیګی مې وکړ، لوښي مې ومینځل او بیا پلار ته په ډېر ادب ودرېدم چې لېسې ته مې پرېږدي، خو ده غالمغال او چغې راباندې وکړې، ویې رټلم او په غوسه یې راته وویل چې (( دا مرداره خوله دې نوره بنده که. )) ما هم خوله بنده کړې ده. له ځانه سره مې هوډ کړی چې چوپه خوله به یم. څوک به مې څنګ وانه وري.

نور مې نو د خبرو حوصله نه درلوده. ریښتیا که خبرې دې په زړه نه وي، خوند درنه کې، هغه څه چې دې زړه غواړي وانه وري، خوشې خبرې څه په درد خوري؟ هسې د ژبې خوځول او شور جوړول دي. نه مې زارۍ چا واورېدې نه ګیلې، نه دعاوې او نه ښېراوې. که خبرې دې څوک نه اوري نو ولې به غږېږې.

چوپټیا ځانته خوند لري. د غړونو شورماشور لکه دوړې په هوا کې سرګردانه له ځان چاپېره څرخي او بیا ورکیږي. چوپټیا لکه جګ دېوال، لکه کلا ستا او د نورو تر منځ درېږي د نورو د ژبې د هجوم نه دې خوندي ساتي. لکه غر داسې. چې د پاسه یې خېټې او لاندې ټول درته واړه ښکاري. د چا غږ درته نه رسیږي. که څوک هرڅه درته وایې خپله یې بېرته اوري. ته ترې بېغمه یې. ما چوپټیا نه ځانته کلا جوړه کړې. بس زه یم، زړه مې او سترګې مې. د زړه په سترګو ګورم او د سترګو په ژبه غږېږم. د خپلې کلا د حرم د ننه او د خپل ځان د محرمې سره.

